EUROPEAN UNION

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

AREU

څېړنه د ښه افغانستان لپاره



# لمر په دوو ګوتو نه پټېږي:

## ناقانونه مخدره توکي او په افغانستان کې د یو سیاسي جوړجاړي په اړه بحثونه

ډیویډ منسفیلډ

چنګاښ ۱۳۹۸

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
څېړنپاڼه

# لمر په دوو ګوتو نه پټېږي:
# ناقانونه مخدره توکي او په افغانستان کې د یو سیاسي جوړجاړي په اړه بحثونه

ډیوېډ منسفیلډ

چنګاښ ۱۳۹۸

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۳۳-۴

ژباړه: عبدالحلیم اچکزی

انځورونه: OSDR،Alcis، ډیوید منسفیلډ

د خپروني کوډ: پ ۱۹۰۴

©۱۳۹۸ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، خبر او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبع یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالي ټولني له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې اداري جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې اداري مالی مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), Institute for Integrated Transitions (IFIT), UN Women and Save the Children.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

## د لیکوال په اړه

ډیوېډ منسفلډ د لندن د اقتصاد په پوهنتون کې لوړپوړی ښوونکی دی. نوموړي په افغانستان کې د کلیوال معیشت او کوکنارو د کرنې په اړه د یو ویشت پرله پسې فصلونو په اړه څېړنې ترسره کړي دي. ډیوېډ منسفیلډ د لندن پوهنتون د ختیځ او افریقایي مطالعاتو د ښوونځی څخه د پرمختیائی مطالعاتو په برخه کې دوکتورا (پي ایچ ډی) لری. نوموړی، پر شګو جوړ دولت: تریاک څنګه افغانستان کمزوری کوی، د کتاب لیکونکی دی. ډیوېډ له **۲۰۰۵** ز کال راهیسی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری سره کار کوی.

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره خوښه ده چې خپلو لوستونکو ته "لمر په دوو ګوتو نه پټېږي: ناقانونه مخدره توکي او په افغانستان کې د یو سیاسی جوړجاړی په اړه بحثونه" تر عنوان لاندې یو ټولیز څېړنیز راپور چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د یو سلاکار، ډاکټر ډېویډ منسفیلډ، لخوا چمتو او د اروپایی ټولنې په سخاوتمندانه مالی مرستې بشپړ شوی، وړاندې کوی. دا راپور د اروپایی ټولنې لخوا 'د طبیعی زیرمو د مدیریت د اساسی برخو په اړه د درې اړخیزې څېړنیزې هڅی؛ د تمویل شوې پروژې برخه ده.

دا راپور د عصری ټکنالوژی او ساحوی څېړنې یو جوړښت دی چې په افغانستان کې د ناقانونه مخدره توکو پر تولید د بندیز پر لرلید یو مشروح تحلیل وړاندی کوی. راپور ټینګار کوی چې د یو سیاسی جوړجاړی په لټه کې به د تیرو دوو لسیزو ځینی لاسته راوړنې قربانی شی.

د سولې او پخلاینې په اړه جاری بحثونو تر ډېره د ناقانونه مخدره توکو د تولید ننګونه له پامه غورځولی. هغو ګواښونو ته چې ناقانونه مخدره توکو د کښت محصولات لکه تریاک، مخدره توکي، چرس او په زیاتېدونکی توګه میتافورمین  رامنځته کړی، د سلی په خبرو کی له سره ورته اشاره نده شوی. د یوې تلپاتې سولې لپاره د مخدره توکو د تولید پر عواقبو سترګې پټېږي او همدارنګه د داسی محصولاتو لوټونکی او ناقانونه ماهیت هم ناڅیزه ګڼل کیږی کوم چې پر تولید د دولت د مالیې لګولو او قانونی کولو د انحصار وړتیا محدودوي. د مخدره توکو ستونزه نوره هم کړکېچنه کیږی، ځکه ډېرې وسلوالې ډلې چې دولت ته وفادارې دي او هغوی چې په تندلاره کړنو کې ښکیل دي، پدې کې ځانګړې ګټې لری او د داسی ناقانونه محصولاتو د تولید او خرڅلاو څخه د پام وړ پیسې ترلاسه کوي.

باید په یاد ولرو چې اوسمهال د ناقانونه مخدره توکو تولید او سوداګری په افغانستان کې د اقتصادي سکټور یوائینی ستره برخه جوړوي. تریاک د هیواد تر ټولو ارزښتناک نغدې کښت دی چې ارزښت یی **۸۲۳** ملیون ډالرو پوری رسیږي او په افغانستان کې د هر بل صنعت په پرتله پکې زیات خلک په کار بوخت دي، چې د **۵۰۰,۰۰۰** پوره وخت کار سره برابر دی. په ۲۰۱۸ م کال کې دې کښت په اټکلی توګه **۲۲۳,۰۰۰** هکتاره ځمکه په بر کې نیولې وه؛ چې دا په ۲۰۰۰ کال کې د طالبانو لخوا د سملاسی بندیز د لګیدو په پرتله درې ځله زیاته ځمکه جوړوي. اټکلي شمیرې ښیی چې په ۲۰۱۸ م کال کې مخدره توکي په یواځی سر د ناخالص کورنی تولید ۱۰ سلنه برخه جوړوله او بیلابیلو وسلوالو ډلو د ارزښتی ځنځیر په امتداد کې تر ۴۰ ملیون ډالرو زیات د مالیاتو په توګه ترلاسه کول. دا راپور سپارښتنه کوی چې په افغانستان کې د ناقانونه مخدره توکو د اقتصاد سیاسی او اقتصادی اهمیت ته په کتو سره دا به نامعقوله وی چې دا ستونزه له پامه وغورځول شی او یا هم د آرمانی او ساده تګلاریزو اقداماتو پواسطه– یا لکه څرنګه چې یو افغان متل وایی لمر په دوو ګوتو نه پټېږي- حل شی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د ساحوی څېړنې په برخه کې د تلپاتې پراختیا او څېړنې د سازمان د پام وړ همکاری څخه مننه کوی، او همدارنګه د بې نومو همکارو بیاکتونکو څخه د دوی د عالمانه نظریاتو او د ډاکټر منسفیلډ څخه پدې برخه کې د نوموړی د پرلپسې سیستماتیکې څېړنې د ژمنتیا او داسې بډایه راپورونو د چمتو کولو له امله مننه کوی.



ډاکټر اورځلا نعمت
د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

## مننه

د السیس لمیټډ (Alcis Ltd) څخه د دوی لخوا د لیری څخه د لوړ کیفیت انځور پیژندنې د تحلیل او د تلپاتې پراختیا او څېړنې د سازمان (OSDR) څخه په ساحه کې د دوی د دومداره سخت کار  مننه کوو. همدارنګه د ریچارډ بریټن، ویلیام بارډ ، پاول فیشتاین، اورځلا نعمت، مایک عثمان او مټ روبین څخه په مخکینی مسودې باندې د دوی د نظریاتو څخه مننه کوو .

# د موضوعاتو لیکلړ


د لیکوال په اړه ..... ج

سریزه ..... د

مننه ..... ه

لنډیز ..... ۱

۱. په دوو ګوتو د لمر پټول ..... ۳

۲. د پالیسۍ (تګلارې) د نیمګړتیاوو برسېره کول ..... ۷

۲.۱ په تېر کې د طالبانو لخوا لګول شوې بندیزونه او پر تریاکو د یو بل بندیز د لګولو لرلید ..... ۷

۲.۲ د یوې تنظیموونکې ادارې په نشتون کې د کوکنارو د کښت قانوني کول ..... ۱۷

۳. د ډیرو ورته اقداماتو په مرسته د ستونزې حل کول ..... ۱۹

۴. مخ پر وړاندې لاره ..... ۲۱

# لنډيز

د افغانستان په تړاو روانې خبرې اترې تر ډيره پر سياسي جوړجاړي او پخلاينې تمرکز لري. د شخړې د هوارې په اړه خبرې د ډيرو لپاره د هرکلي وړ پرمختيا شمېرل کيږي، پرته لدې چې آيا ځينې اوسنی خوځښتونه تر ډيره د سياسي غوښتنو پايله ده او يا د ټرمپ اداري هيله ده چې غواړي په متحده ايالاتو کې د راتلونکو ټاکنو څخه وړاندې د افغانستان څخه خپل سرتيري وباسي.[1] خو سره لدې، په زياتېدونکې توګه يو شمېر داسې اندېښنې شتون لري چې په حقه د مدني ټولنې، سياسيونو او فعالينو لخوا راپورته شوي دي. دوی اندېښمن دي چې د يو سياسي جوړجاړي په لټه کې به د تېرو دوو لسيزو لاسته راوړنې قرباني شي، او ځينې ويره لري چې حتی حکومت او د هغې اداري به نسکوره شي. په داسې حال کې چې تر ټولو د پام وړ انديښنه د ښځو حقوق دي، په ځانګړې توګه پدې برخه کې د طالبانو مخينې ته په کتو سره، خو د دې تر څنګ د انتخابي شوراګانو، د راي ورکولو حق، د رسنيو او آزادی بيان، او په ټوله کې د بشری حقونو په تړاو هم يو لړ پوښتنې شتون لری. دا ټول هغه موضوعات دی چې کيدای شی په بيلابيلو مواردو کې هم په افغانستان کې دننه او په نړيواله کچه، او همدارنګه د طالبانو سره د خبرو اترو پر مهال، په اړه يې پام وړ بحث ترسره شي.

د سولې او پخلاينې په روانو بحثونو کې يوه مسله چې تر ډيره له پامه غورځول شوې هغه د ناقانونه مخدره توکو توليد دی. کله چې دغه موضوع ياده شی، نو په اړه يې بحث لنډ ، او تر ډيره پر دې احتمال متمرکز وی چې طالبان به پرترياکو هغه بنديز چې د ۲۰۰۰ م کال په دوبې کې يې لګولی وو، بيرته تکرار کړی، چې د بنديز په اوج کې کرکيله د اټکل شوی ۸۲,۰۰۰ هکتارو څخه په ۲۰۰۱ م کال کې يوائې ۸,۰۰۰ هکتارو ته راټيټه شوه. پدې توګه، بحثونه د سياسي قدرت پر محور او د طالبانو د وړتيا پر دې مفروضې څرخيږي چې دوی به يو ځل بيا کليوال وګړي دې ته اړ کړی ترڅو د ترياکو د توليد څخه ډډه وکړی. پدې اړه تش په نامه بحث کيږي چې د يو داسې نوښت د منفی اقتصادي اغيزو د منحرف (ليری) کولو لپاره کومو اقداماتو ته اړتيا شته، لکه څرنګه چې د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش(SIGAR) د «زيات خطر»[2] تر عنوان لاندې راپور کې راغلي، خو د داسی هڅې د احتمالی بريا لپاره لږ ملاحظات په پام کې نيول کيږي. دا چې د ناقانونه مخدره توکو د کښت توليد – لکه ترياک، مخدره توکی، چرس او په زياتېدونکی توګه متيافورمين - به د يو سياسي جوړجاړی لپاره کوم ګواښونه وي، دې ته له سره اشاره نه کيږي: يعنی د داسی محصولاتو لوټوونکی او ناقانونه ماهيت چې پر توليد د دولت د قانونی کولو او ماليې ټولولو د انحصار وړتيا محدودوی، او د بيلابيلو وسلوالو ډلو لخوا د ترلاسه کېدونکو پيسو اندازه – چې پدې کې د دولت ملاتړې ډلې او تندلاری دواړه شامل دي – او هغه عواقب چې دا يې د يوې تلپاتې سولې لپاره لری، له پامه غورځول کيږی.

او د ناقانونه مخدره توکو څخه د ترلاسه کېدونکو پيسو اندازه د پام وړ ده. بايد هير نشي چې اوسمهال د ناقانونه مخدره توکو توليد او سوداګری په افغانستان کې د اقتصاد يوائينی تر ټولو ستره برخه جوړوي. کوکنار په هيواد کې د نغدو پيسو تر ټولو ارزښتمن کښت شمېرل کيږی چې ارزښت يې ۸۲۳ مليون[3] ډالره دی او په افغانستان کې د بل هر سکټور په پرتله پکې زيات خلک په کار بوخت دي، چې شمېر يې د ۵۰۰,۰۰۰ تنو د پوره وخت کار سره برابر دی. په ۲۰۱۸م کال کې په اټکلی توګه پر ۲۲۳,۰۰۰ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوی وه: چې دا د ۲۰۰۰م کال په پرتله کله چې طالبانو په سمدستی توګه د کوکنارو پر کرکيلې بنديز ولګاوه، درې ځلې زياته ځمکه جوړوي. محتاط اټکلونه ښيی چې په ۲۰۱۸م کال کې مخدره توکو په يوائې سر د ناخالص کورنی توليد ۱۰ سلنه جوړوله او د بيلابيلو وسلوالو ډلو لخوا د ۴۰ مليون ډالرو څخه زياتې پيسې د ماليې په بڼه د ارزښتی ځنځير په امتداد کې ترلاسه شوي. د مخدره توکو د اقتصاد ارزښت به هله نور هم زيات وای که چيری پدې اټکلونو کې د چرسو د اقتصاد او ميتافورمين د ابتدايی صنعت ارزښت ور اضافه شوی وای – چې پکې هغه څه چې په پراخه کچه کرل کېدونکی د ايفيدرا بوټی او په زياته کچه د پروسس کولو ځايی وړتيا شامل دی.

۱ احمد رشيد ، 'په افغانستان کې يوې تير ايستونکی (غولوونکی) سولې ته يو ګام نږدې'، د نيويارک د کتابونو بياکتنه، ۲۷ مارچ ۲۰۱۹، /one-step-closer-to-an-elusive-peace-in-afghanistan/۲۷/۰۳/۲۰۱۹/https://www.nybooks.com/daily

۲ د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش (SIGAR)، 'د ۲۰۱۹ کال د زيات ګواښ ليست'، ۲۰۱۹، ۳۴-۳۹ پاڼه High-Risk_List.pdf_۲۰۱۹/https://www.sigar.mil/pdf/spotlight

۳ د افغانستان اسلامی جمهوريت، د احصايې او معلوماتو ملی اداره، "د افغانستان احصايوی کالنۍ ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸"، ۳۹ ګڼه، آګست ۲۰۱۸، ۱۱۱ پاڼه.

په افغانستان کې د ناقانونه مخدره توکو د اقتصاد سیاسي او اقتصادي اهمیت ته په کتو سره دا به نامعقوله وي چې دغه ستونزه له پامه وغورځول شي او یا هم د آرماني او ساده تګلاریزو اقداماتو پواسطه حل شي – او لکه چې یو افغان متل وايي لمر په دوو ګوتو نه پټیږي. د دوی د ماهیت له مخې، د حکومت لپاره ستونزمنه ده چې ناقانونه مخدره توکې مهار کړي، په خاصه توګه هغه حکومتونه چې په اوږده او خونړۍ جګړه کې ښکېل او یا ورځخه د وتلو په حال کې وي. په افغانستان کې پر کوکنارو د بندیز هڅې لنډمهاله، بې اغیزې او لاحاصله جوړتې شوي. دغو بندیزونو په افغانستان کې د سیاسي قدرت پاشلي او نامتمرکزه ماهیت ځخه سترګې پټې کړې وې، د کلیوالي ټولنو ترمنځ همکاري یې له پامه غورځولې وي، او په پایله کې په کلیوالو سیمو کې د نارضایتي سبب شو او د تاوتریخوالي نه ډک مقاومت سره یې مرسته وکړه. د مخدره توکو قانوني کول – یعنې د یو کنترول شوي سیستم پر بنسټ د مخدره توکو تولید – په یو داسې هیواد کې ناشونې بریښي چیرې چې په کلیوالو سیمو کې په کوم کې چې مخدره توکې کرل کیږي د دولت حاکمیت تل محدود پاتې شوی دی، او چیرې چې ناقانونه بازارونو ته د داسې توکو د خورېدو ګواښ د پام وړ دی. تر ټولو اړینه دا چې وړې کروندې، غیر ګټور تولید او کمزورې ټکنالوژي د دې سبب ګرځېدلي چې افغانستان ونشي کولای د قانوني مخدره توکو په نړیوالو بازارونو کې، چیرې چې سیالي ډیرې زیاتې دې او نرخ یې په دوامداره توګه ټیټیږي، سیالي وکړي. ۴

امکان نلري چې په افغانستان کې د ناقانونه مخدره توکو د تولید ستونزه پخپله حل شي او دا چې پر یو راتلونکي سیاسي جوړجاړي څرنګه اغیزې لرلی شي، او په څه ډول ورځخه اغیزمن کیږي، نو پکار ده چې په ورته روانو بحثونو کې لومړیتوب ورکړل شي. په ډیرو هغو ولایتونو کې چې پکې مخدره توکې تولیدیږي سیاسي وضعیت پیچلي دی، پدې معنی چې هلته بیلابیلې وسلوالې ډلې شتون لري او ائتلافونه مدام د بدلېدو په حال کې دي، او څومره چې د سیاسي مفکورو او اړیکو پر اساس دغه وضعیت بڼه غوره کوي په هماغه اندازه اقتصادي ګټې هم پدې برخه کې خپله ونډه لوبوي. په دغو سیمو کې ځایي زورواکې – چې د دوی له ډلې ځینې یې په مرکزي، ولایتي او د ولسوالۍ په کچه رسمي منصبونه لري – د تندلارو (افراطي) ډلو سره د ناقانونه مخدره توکو د تولید او لېږد رالیږد د باج اخیستلو پر سر هوکړې ته رسیږي. دا به د حقیقت نه لیرې وي که مونږ فرض کړو چې دغه ځایي زورواکي او ډلبازۍ چې د کلونو راهیسې یې په دغه سیمو کې شتوالی درلود د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ یو جوړجاړي ته تر رسېدو وروسته یو ځلې تم شي. دا به هغه ولایتونه وي چیرې چې د هر ډول سیاسي جوړجاړي په صورت کې به پکې ژور اختلافات تر ټولو زیات راڅرګند شي، او چیرې چې د بیلابیلو ډلو ترمنځ شخړې به د سولې د کمزوري کولو پرځای د عوایدو د کنترول پر سر رامنځته شي.

په عین حال کې، په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه د تېر په څېر نشي ترسره کیدلای. پخوانیو هڅو ښودلې چې دا موضوع په حکومت کې دننه او هم د بیلابیلو ښکېلو حکومتونو ترمنځ څومره وېشونکې پاتې شوې ده. د ستونزې د پوهاوي او د هغې پر ماهیت باندې هوکړه او دا چې څرنګه کیدای شي مدیریت شي، او همدارنګه یو تګلاریزه پروسه چې د ستونزې د معیارونو پر له منځه وړلو تمرکز وکړي – لکه تر کرکیلې لاندې ساحه – د دې په نسبت چې اساسي عوامل حل کړي، ددې باعث ګرځېدلي چې بیلابیلې او رقیبې تګلارې رامنځته شي او پدې برخه کې لومړیتوبونه عبث او بې ګټې تمامې شوي. جوړته شوه چې د مخدره توکو پر وړاندې محدود اقدامات کوم چې په پراخ پراختیایې تګلارې کې شامل نه وو بې اغیزې او ناپایداره دي. تر ډیره محدودې بنسټیزې دندې او ګټې د هغه ډول بین السکتوري او بین الاداري همکاریو د لمنځه تللو سبب شو چې د ناقانونه مخدره توکو د تولید د پیچلې پدیدې سره د مبارزې لپاره ورته اړتیا لیدل کیده. پکار ده چې د یو سیاسي جوړجاړي پر مهال، لومړیتوب دا وي چې راتلونکي افغان حکومت ددې مبارزې مشري په غاړه ولري؛ یعنې نه یوازې دا چې د مخدره توکو پر وړاندې تګلاره چمتو کړي، بلکه هغه زیانونه چې د ناقانونه مخدره توکو له امله رامنځته کیږي د یو پراختیایي لومړیتوب په توګه مشخص او د دولت ټولې برخې پدې مکلف کړي ترڅو دې متقاطع ستونزې ته د رسیدګي په خاطر هغه پخپلو تګلارو او اقداماتو کې په واضح توګه شامل کړي. واقعیت ته په کتو سره، دا به غوره وي چې د مخدره توکو د تولید، سوداګرۍ او کارونې له امله رامنځته شوي زیات زیان رسوونکي اغیزې مدیریت شي، او نه دا چې دغه ستونزه له یوې مخې له منځه یوړل شي.

۴ ویلیام بایرډ او ډېویډ منسفیلډ، 'د درملي کارونې لپاره د افغان تریاکو قانوني کول: ولې به دا کار موثر نه وي'، د سولې لپاره د متحده ایالاتو انستیتیوت، د سولې د راپور لنډیز، ۱۷۹ شمېره، د ۲۰۱۴ سپتامبر، ۳ پاڼه

۲۰Use.pdf٪۲۰Medicinal٪۲۰for٪۲۰Opium٪۲۰Afghan٪Licensing-https://www.usip.org/sites/default/files/PB۱۷۹

# ۱. په دوو ګوتو د لمر پټول

ځینې وختونه په افغانستان کې د مخدره توکو تولید او پر وړاندې یې مبارزه د پراختیایي اجنډا په لومړي سر کې ځای درلود.۵ خو دا کار ګټور ندی تمام شوی؛ ځکه ورځخه یوازې لنډمهاله موخې ترلاسه شوې، او په ځینو مواردو کې لکه د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو په برخه کې د یو فعالیت ځارنه او نیمګړي پراختیایي اقدامات د اقتصادي او سیاسي ثبات د کمزوري کېدلو لامل شوي او همدارنګه د افغانستان د دولت او د هغې د نړیوالو ملاتړو پر وړاندې یې کرکې راپارولې.۶ نن ورځ برعکس وضعیت حاکم دی یعنی او سمهال هیڅوک نه غواړي چې د مخدره توکو د ستونزې په اړه خبره وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د مخدره توکو ناقانونه اقتصاد او ورځخه ترلاسه کېدونکې پیسې یو له هغو کړکیچنو ستونزو څخه شمیرل کیږي چې افغانستان ورسره مخامخ دی او په پای کې به راتلونکو شخړو ته بډه وبخښي او هم به پخپله د شخړو له امله بډه غوره کړي.

دا ډېره آسانه ده چې په کابل او نورو غربي پلازمینو کې په افغانستان کې د ناقانونه اقتصاد اندازه او اهمیت له پامه وغورځول شي، او پدې توګه ډېر ورته په ناڅېزه سترګه کتل کیږي. د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۸م کال کې افغان حکومت اټکل وکړ چې د ناقانونه کوکنارو د کرکیلې ارزښت **۸۲۳** ملیونه ډالره دی: یعنې د ناخالص کورني تولید (GDP) **۴.۴** سلنې سره معادل دی.۷ ممکن دغه شمیره نسبتاً ناڅېزه ښکاره شي پداسې حال کې چې په **۲۰۱۸**م کال کې **۲۲۳,۰۰۰** هکتاره ځمکې باندې کوکنار کرل شوي وو، او د کوکنارو اقتصاد تر **۵۰۷,۰۰۰** کسانو لپاره د ټول وختي معادل (FTEs) کار زمینه برابره کړې وه: چې پدې توګه د هیواد یو له سترو کار ګمارونکو څخه شمیرل کیده، او د پام وړ په توګه یې د افغان ملي امنیتي دفاعي ځواکونو (ANDSF) تر ټولیزې شمیرې ډېر کسان په کار ګمارلي وو.۸ خو په دغه اټکل کې د مخدره توکو لکه (مورفین، خام هیروئین او هیروئین هایدرو کلوراید)، چرس او د میتافورمین د ابتدایي صنعت د تولید او خرڅلاو ارزښت شامل ندي.

که چیرې دغه زیات ارزښتناک تولیدات هم پکې شامل شي، د ټولیز ناخالص کورني تولید سره د ناقانونه مخدره توکو سهم به نور هم زیات شي. د بیلګې په توګه د هیروئین او هیروئین هایدرو کلوراید د تولید د ارزښت زیاتول به ټولیز ناخالص کورني تولید ۱.۲ میلیارده۹ ډالر نور هم زیات کړي، او پدې توګه دغه سهم **۵.۷** سلنه زیاتیږي.۱۰ د چرسو زیاتول، چې په ځینو ولایتونو کې د دوبي د موسم یو پام وړ کښت جوړوي، میتافورمین او د اړونده خدماتو صنعت چې د مخدره توکو د اقتصاد سره مرسته کوي، لکه د مخدره توکو په پروسس کې د مخکښو کیمیاوي موادو قاچاق او لېږد رالېږد او مخ پر زیاتېدونکې ټکنالوژۍ چې د سوېل لویدیځ په پخوانیو دښتو کې د تریاکو تولید یې را چاپیر کړی، دا به په ناخالص کورني تولید کې نور ارزښت اضافه کړي.

په ټوله کې د اقتصاد او کارموندنې د لیدلوري سره د ناقانونه مخدره توکو د مرستو ترڅنګ، د بیلابیلو وسلوالو ډلو لخوا د تولید په مختلفو پړاوونو کې د اخیستل شوی عاید په اړه هم باید فکر وشي. حتی نسبتاً لومړني اټکل ښیي چې په **۲۰۱۸**م کال کې د کوکنارو د ابتدایي تولید څخه به **۲۵.۹** ملیون ډالره عاید ترلاسه شوی وي، او پر دې سربېره **۵.۱** ملیون ډالره مالیه به د پخو کوکنارو او علاوه پر دې **۸.۸** ملیون ډالره به د «پوډر» – میتافورمین، د خامو هروئینو او هروئین هایدروکلوراید څخه ترلاسه شوی وي – چې په ټولیزه توګه لدې لارې **۳۹.۹** ملیون ډالره ترلاسه شوي (۱ جدول وګورئ). له دې ټولیزې څخه، **۳۰.۹** ملیون ډالره د سوېل لوېدیځو ولایتونو لکه فراه، هلمند، کندهار، نیمروز، اروزګان

۵ ډېوید منسفیلد او پاول فیشتاین، 'پټې سترګې: د تحول په حال کې مخدره توکو پر وړاندې مبارزه'، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد د راپور لنډیز، د ۲۰۱۳ کال سپټامبر،

۲۰bp.pdf-opium_۱۳۸۲۳۵۴۱۱۹_۱۲۲۲/۱۲۱۷۴۹۳/https://www.ecoi.net/en/file/local

۶ د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تجربې څخه سبقونه، د ۲۰۱۸ جون، LL.pdf-۵۲-۱۸-https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR

۷ د افغانستان اسلامي جمهوریت، د احصایې او معلوماتو ملي اداره، "د افغانستان احصایوی کالنۍ ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸"، **۳۹** ګڼه، آګست **۲۰۱۸**، **۱۱۱** پاڼه.

۸ دغه شمیره د ډیوېډ منسفیلد په واسطه د جوړ شوی نمونې څخه چې د نړیوال بانک د **۲۰۱۴** م کال په کرهنیزې تګلارې کې کارېدلی، را اخیستل شوی.

۹ د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر () اټکل کوی چې افغانستان په کال کې **۳۰۰-۲۵۰** میټرک ټن د هیروئینو د تولید خام مواد او **۳۲۰-۲۱۰** ټنه هیروئین تولیدوی. که چیرې د هیروئینو د تولید د یو کیلوګرام خامو موادو ارزښت شاوخوا **۱,۰۰۰** ډالره او د هیروئینو د یو کیلوګرامو ارزښت **۲,۰۰۰** ډالره اټکل شی نو ددې تولید ارزښت به **۱.۲** ملیارده امریکایي ډالره وی. وګورئ د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر لخوا په **۲۰۱۸**م کال کې د افغانستان د کوکنارو سروې، **۴۳** پاڼه.

۱۰ د افغانستان حکومت په **۲۰۱۷** – **۲۰۱۸** کلونو کې د کوکنارو په ګډون د ناخالص کورني تولید اندازه **۲۱.۴** ملیارده ډالره اټکل کړی وو. د افغانستان اسلامي جمهوریت، د احصایې او معلوماتو ملي اداره، "د افغانستان احصایوی کالنۍ ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸"، **۳۹** ګڼه، آګست **۲۰۱۸**، ii پاڼه.

او ذابل څخه ترلاسه کیږي؛ چې دا په ۲۰۱۸م کال کې د کندهار ولایت د ګمرک، چې د افغانستان د پنځو لومړنیو رسمي سرحدي لارو څخه یوه لار ده، د ترلاسه شوي عاید د اندازې سره برابره ده.[۱۱] ممکن په ۲۰۱۸ م کال کې په هلمند کې د مخدره توکو د تولید څخه د ترلاسه شوې مالیې ارزښت ۱۹.۷ ملیون ډالره وي.

دا یوائې هغه پیسې دي چې د تولید پر سر ادأ کیږي. د پیسو نورې غیر رسمي ورکړې - بډې - چې په ځایي اصطلاح د «ډالۍ» یا «بخشش» په نامه یادیږي چارواکو، د قانون د تنفیذ موظفینو او وسلوالو ډلو ته چې پکې تندلارې هم شامل دي، ورکول کیږي. دا پیسې د کرل شویو او پروسس شویو مخدره توکو د اندازې په تناسب نه ورکول کیږي، بلکه د آسانتیا پیسې دي چې موخه یې د ځایي چارواکو د ملاتړ - یا په اصطلاح «د خوندي تېرېدو» – د سهولت ترلاسه کول دي، چې پدې توګه د مخدره توکو سوداګري جاري ساتل کیږي. د بېلګې په توګه، د شمالي هلمند په ګندم ریاض سیمه کې چیرې چې د مخدره توکو د پروسس ګڼ شمیر کارخانې شتون لري، د لابراتوارونو د خاوندانو په وینا دوی په هر موسم کې د طالبانو ځایي قوماندان ته ۴۰۰ ډالر ورکوي چې دا پر هر کیلوګرام پخو کوکنارو د ۲.۴ ډالرو او پر هر کیلوګرام «پوډر» د ۵.۴۰ ډالرو منظمو پیسو پر ورکړې سربېره دي.[۱۲] پدې توګه، هر څوک (په قوي احتمال سره طالبان) چې د هلمند او یا هم یو له هغو ولایتونو چې پکې کوکنار تولیدیږي واکې په لاس کې ولري، یوه داسې ارزښتناکه مالي سرچینه په واک کې لري چې په مرسته یې کولای شي د اړتیا پر مهال د چارواکو معاشونه ادأ، خدماتو وړاندې او یا هم سرتیري په وسلو سمبال کړي.

البته د وسلوالو ډلو لپاره د ناقانونه مالونو (اجناسو) په بڼه کوم چې په نامشروع ډول تولید او پلورل کیږي، د پیسو د لاسته راوړلو نورې سرچینې هم شتون لري. په افغانستان کې قیمتي ډبرې استخراج کیږي، چې پکې یاقوت، زمرد او همدارنګه نیمه قیمتي ډبرې لکه لاجورد شامل دي. همدارنګه په هیواد کې د صنعتي معدني موادو لکه کرومایټ، سکاره (ذغال) او مګنیزیم سیلیست پام وړ ذخیرې شتون لري. د دغو معدني موادو زیاته برخه په غیر قانوني ډول او د جواز پرته استخراج کیږي، او وروسته بیا د پولې هاخوا پاکستان، ایران او د مرکزي آسیا جمهوریتونو ته قاچاقیږي. په همدې ډول د قانوني توکو د قاچاق - یا په بله اصطلاح «د ترانزیت سوداګرۍ» - یو غوړېدلی اقتصاد شتون لري چې له مخې یې بیلابیل استهلاکي او عصري مالونه افغانستان ته د دې لپاره واردیږي ترڅو بیرته ګاونډیو هیوادونو ته قاچاق او په ګټه وپلورل شي. د چارواکو د اټکل له مخې د ترانزیت سوداګرۍ د تړون پر اساس تر ۵۰ سلنه وارد شوي توکې تر پولې هاخوا ګاونډیو هیوادونو ته قاچاق کیږي.[۱۳]

د ممنوعه مخدره توکو تر څنګ، دغه نامشروع اقتصادونه د عوایدو یو د پام وړ سرچینه جوړوي چې په کابل کې د افغان حکومت مرکزي خزانو ته لاره نه مومي، او د مخدره توکو، چرس او میتافورمین څخه ترلاسه شوي عواید ښایي په راتلونکې کې هم د حکومت لاس ته ورنشي. تر ډیره داسې ښکاري چې د دغو پیسو زیاته برخه به په هغو ولایتونو کې پاتې شي چیرې چې دغه توکې تولید او انتقالیږي، او یا هم ښایي په بهرنیو بانکونو کې ذخیره شي. که څه هم لدې لارې د ترلاسه شوي عاید اندازه نامعلومه ده خو په څرګند ډول د پام وړ ده او د هغو ولایتونو د سیاسي اقتصاد بڼه ټاکي په کوم کې چې دغه توکې تولیدیږي: پکې حمایوي شبکې شتون لري، د پولې هاخوا اړیکې لري او شاید تر ټولو اړینه دا چې په شخړې او د افغانستان په سیاسي جوړجاړي کې د ښکېلو کسانو ګټې ورسره تړلي دي. د دغو نامشروع اقتصادونو د اندازې په اړه د لا ښه پوهاوي او معلوماتو ترلاسه کول، او په ځانګړې ډول د ناقانونه مخدره توکو اقتصاد، او دا چې په رښتینې بڼه د دې معضلې د حل په برخه کې څه ډول اقدامات ترسره کیدای شي، به د یو تلپاتې سیاسي جوړجاړي لپاره ډیر اړین وي.

۱۱ د افغانستان اسلامي جمهوریت، د احصایې او معلوماتو ملي اداره، "د افغانستان احصایوي کالنۍ ۲۰۱۷ – ۲۰۱۸"، ۳۹ ګڼه، آګست ۲۰۱۸، ۲۱۸ پاڼه.

۱۲ ډیوېډ منسفیلد، "د عاید مخینوی یا د پیسو ضایع کول: په افغانستان کې 'د مخدره توکو پر لابراتوارونو' د هوایي بریدونو د اغیزو ارزونه" IDPU، LSE، د ۲۰۱۹ اپریل، ۴۵ پاڼه.

۱۳ د افغان حکومت چارواکي سره مرکه، د ۲۰۱۱ آګسټ.

**۱ جدول: په ۲۰۱۸ م کال کې د ولایت په جلاوالي سره په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید پر سر د احتمالي تول شوي ماليې يو اټکل**

| | د کوکنارو | | | | | پاخه شوی کوکنار | | "پودر" | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کرکیله(هکتار) UNODC | حاصل (متریک ټن) UNODC | د کوکنارو معادل مالیه (نهایتاً ۳٪) | نرخ (کیلوګرام/دالر) | تولکه(دالر) | مقدار[1] (کیلوګرام) | مالیه[2] (دالر) | مقدار[3] (کیلوګرام) | مالیه[4] (کیلوګ |
| بدخشان | ۷,۷۰۳ | ۲۲۲ | ۷,۸۶۰ | ۷۰ | ۵۵۰,۲۰۰ | ۸۷,۳۳۳.۳۳ | ۲۰۹,۶۰۰ | ۱۶,۳۳۳.۳۳ | ۲۸۷,۴۶۶.۷ |
| بادغیس | ۶,۹۷۳ | ۱۵۲ | ۴,۶۸۰ | ۱۷۵ | ۷۷۲,۲۰۰ | ۵۲,۰۰۰ | ۱۲۴,۸۰۰ | ۳۰,۵۵۵.۵۶ | ۵۳۷,۷۷۷.۸ |
| بغلان | ۱,۰۷۶ | ۲۸ | ۸۴۰ | ۵۲ | ۴۷,۰۴۰ | ۹,۳۳۳.۳۳۳ | ۲۲,۴۰۰ | ۱,۹۴۴.۴۴۴ | ۳۴,۲۲۲.۲۲ |
| بلخ | ۸,۵۳۲ | ۲۲۵ | ۶,۷۵۰ | ۵۲ | ۳۷۸,۰۰۰ | ۷۵,۰۰۰ | ۱۸۰,۰۰۰ | ۲۲,۰۵۵.۵۶ | ۳۸۸,۱۷۷.۸ |
| بامیان | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| دایکنډی[5] | ۷۴۷ | ۱۸ | ۸۴۰.۳۷۵ | ۸۷ | ۷۳,۱۱۲.۶۳ | ۶,۰۰۰ | ۱۴,۴۰۰ | ۲,۱۶۶.۶۶۷ | ۳۸,۱۳۳.۳۳ |
| فراه[6] | ۱۰,۹۱۶ | ۲۴۳ | ۱۲,۲۸۰.۵ | ۱۷۵ | ۲,۰۲۶,۲۸۲.۵ | ۸۱,۰۰۰ | ۱۹۴,۴۰۰ | ۱۵,۸۸۸.۸۹ | ۲۷۹,۶۴۴.۴ |
| فاریاب | ۸,۱۷۵ | ۲۱۲ | ۶,۴۸۰ | ۵۲ | ۳۶۲,۸۸۰ | ۷۲,۰۰۰ | ۱۷۲,۸۰۰ | ۴۱,۵۰۰ | ۷۳,۰۴۰۰ |
| غزني | ۳۷۳ | ۹ | ۲۷۰ | ۹۰ | ۲۴,۳۰۰ | ۳,۰۰۰ | ۷,۲۰۰ | ۲,۵۰۰ | ۴۴,۰۰۰ |
| غور | ۳,۵۷۴ | ۸۰ | ۲,۴۰۰ | ۱۷۵ | ۳۹۶,۰۰۰ | ۲۶,۶۶۶.۶۷ | ۶۴,۰۰۰ | ۵,۲۲۲.۲۲۲ | ۹۱,۹۱۱.۱۱ |
| هلمند[7] | ۱۳۶,۷۹۸ | ۳,۲۹۷ | ۱۵۳,۸۹۷.۸ | ۸۷ | ۱۳,۳۸۹,۱۰۴ | ۱,۰۹۹,۰۰۰ | ۲,۶۳۷,۶۰۰ | ۲۱۰,۹۴۴.۴ | ۳,۷۱۲,۶۲۲ |
| هرات | ۵۹۵ | ۱۳ | ۳۹۰ | ۱۷۵ | ۶۴,۳۵۰ | ۴,۳۳۳.۳۳۳ | ۱۰,۴۰۰ | ۱,۳۸۸.۸۸۹ | ۲۴,۴۴۴.۴۴ |
| جوزجان | ۳۳۸ | ۹ | ۲۷۰ | ۵۲ | ۱۵,۱۲۰ | ۳,۰۰۰ | ۷,۲۰۰ | ۵,۸۸۸.۸۸۹ | ۱۰۳,۶۴۴.۴ |
| کابل | ۴۸۴ | ۱۱ | ۳۳۰ | ۹۰ | ۲۹,۷۰۰ | ۳,۶۶۶.۶۶۷ | ۸,۸۰۰ | ۱,۰۵۵.۵۵۶ | ۱۸,۵۷۷.۷۸ |

۱ دا د دې مفروضې پر اساس کار کوي چې د تریاکو د کبنت ۵۰ سلنه پاخه تریاکو ته تبدیلیږي او پاتې ۵۰ سلنه خام میتافورمین، خام هیروئین او هیروئین هایدروکلوراید ته بدلیږي. د خامو تریاکو څخه پاخه تریاکو ته د تبدیلېدو نرخ ۳:۲ دی.

۲ پر چاینکي، یا خامو تریاکو مالیه نهایتاً د هر کیلوګرام پر سر ۲.۴۰ ډالرو پورې رسیږي. وګورئ ډېویډ مانسفیلډ، «د عاید مخینوی یا د پیسو ضایع کول: په افغانستان کې ‹د مخدره توکو پر لابراتوارونو› د هوایي بریدونو د اغېزو ارزونه» IDPU، LSE ، د ۲۰۱۹مې، ۴۵ پاڼه، http://www.lse.ac.uk/united-states/Assets/Documents/mansfield-april-update.pdf

۳ د محصول نوعیت ته په کتو سره د تبادلې نرخ توپیر لري. دغه محاسبه د تولید وروستي مقدار محصول پر اساس دی او له همدې امله د تریاکو څخه تر خام مورفین پورې د تبادلې نرخ ۹:۱ فرض کوي.

۴ پر خام مورفین، خام هیروئین، هیروئین هایدروکلوراید او میتافورمین مالیه د هر کیلوګرام پر سر یو ټاکلی نرخ لري او نهایي نرخ د کیلوګرام پر سر ۱۷.۲۰ تر ډالرو پورې رسیږي. ډېویډ مانسفیلډ، «د عاید مخینوی یا د پیسو ضایع کول: په افغانستان کې ‹د مخدره توکو پر لابراتوارونو› د هوایي بریدونو د اغېزو ارزونه» IDPU، LSE ، د ۲۰۱۹مې، ۴۵ پاڼه، http://www.lse.ac.uk/united-states/Assets/Documents/mansfield-april-update.pdf

۵ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده تریاکو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د ۱.۱۲۵ کیلوګرام معادل دی.

۶ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده تریاکو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د ۱.۱۲۵ کیلوګرام معادل دی.

۷ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده تریاکو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د ۱.۱۲۵ کیلوګرام معادل دی.

| | د کوکنارو | | | | | پاخه شوی کوکنار | | "پودر" | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کندهار[۸] | ۲۳,۴۱۰ | **۵۲۴** | ۲۶,۳۳۶.۲۵ | **۸۷** | ۲,۲۹۱,۲۵۴ | ۱۸۸,۰۰۰ | ۴۵۱,۲۰۰ | ۴,۰۷۲۲.۲۲ | ۷۱۶,۷۱۱.۱ |
| کاپیسا | **۳۸۲** | ۱۰ | **۳۰۰** | **۱۰۷** | ۳۲,۱۰۰ | ۳,۳۳۳.۳۳۳ | ۸,۰۰۰ | ۱,۸۸۸.۸۸۹ | ۳۳,۲۴۴.۴۴ |
| خوست | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| کنړ | ۱,۷۳۲ | **۴۳** | ۱,۲۹۰ | **۱۰۷** | ۱۳۸,۰۳۰ | ۱۴,۳۳۳.۳۳ | ۳۴,۴۰۰ | ۳,۱۶۶.۶۶۷ | ۵۵,۷۳۳.۳۳ |
| کندوز | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| لغمان | ۲,۰۹۲ | **۵۲** | ۱,۵۶۰ | **۱۰۷** | ۱۶۶,۹۲۰ | ۱۷,۳۳۳.۳۳ | ۴۱,۶۰۰ | ۴,۳۸۸.۸۸۹ | ۷۷,۲۴۴.۴۴ |
| لوګر | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ننګرهار | ۱۷,۱۷۷ | **۴۲۸** | ۱۲,۸۴۰ | **۱۰۷** | ۱,۳۷۳,۸۸۰ | ۱۴۲,۶۶۶.۷ | ۳۴۲,۴۰۰ | ۳۶,۸۳۳.۳۳ | ۶۴۸,۲۶۶.۷ |
| نیمروز[۹] | ۹,۱۱۵ | **۲۰۳** | ۱۰,۲۵۴.۳۸ | **۱۲۵** | ۱,۶۹۱,۹۷۲ | ۶۷,۶۶۶.۶۷ | ۱۶۲,۴۰۰ | ۱۴,۱۶۶.۶۷ | ۲۴۹,۳۳۳.۳ |
| نورستان | ۰ | ۰ | ۰ | **۱۰۷** | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۲۲.۲۲۲۲ | ۳,۹۱۱.۱۱۱ |
| پکتیکا | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| پکتیا | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| پنجشیر | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| پروان | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| سمنګان | **۲۳۸** | **۲** | **۱۸۰** | **۵۲** | ۱۰,۰۸۰ | ۲,۰۰۰ | **۴۸۰۰** | ۴۴۴.۴۴۴۴ | ۷,۸۲۲.۲۲۲ |
| سرپل | **۲۲۰** | **۱۷** | **۵۱۰** | **۵۲** | ۲۸,۵۶۰ | ۵,۶۶۶.۶۶۷ | **۱۳۲۰۰** | ۶,۴۴۴.۴۴۴ | ۱۱۳,۴۲۲.۲ |
| تخار | **۲۵۱** | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| اروزګان | ۱۸,۶۶۲ | **۴۵۰** | ۲۰,۹۹۴.۷۵ | **۸۷** | ۱,۸۲۶,۵۴۳ | ۱۵۰,۰۰۰ | **۳۲۰۰۰۰** | ۳۱,۲۷۷.۷۸ | ۵۵۰,۴۸۸.۹ |
| وردګ | ۰ | ۰ | ۰ | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ذابل[۱۰] | ۲,۵۸۱ | **۷۲** | ۲,۹۰۳.۶۲۵ | **۸۷** | ۲۵۲,۶۱۵.۴ | ۲۰,۶۶۶.۶۷ | **۴۹۲۰۰** | ۳,۱۱۱.۱۱۱ | ۵۴,۷۵۵.۵۶ |
| | | | | | ۲۵,۹۴۰,۲۴۴ | | ۵,۱۲۱,۶۰۰ | | ۸,۸۰۱,۹۵۶ |

۸ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده تریاکو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د **۱.۱۲۵** کیلوګرام معادل دی.

۹ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده کوکنارو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د **۱.۱۲۵** کیلوګرام معادل دی.

۱۰ دا اټکل د جریب پر سر د ۲ خورده کوکنارو د مالیې پر اساس دي، چې پر هر هکتار د **۱.۱۲۵** کیلوګرام معادل دی.

## ۲. د پالیسۍ (تګلارې) د نیمګړتیاوو برسېره کول

په افغانستان کې د ناقانونه مخدره توکو په اړه ډېری بحثونه د افراطي قطبونو ترمنځ د زنګېدو په حال کې دي. داسې کسان هم شته چې عقیده لري چې مخدره توکي په آسانۍ سره د بندیز لګولو له لارې منع کېدای شي او پدې توګه ستونزه به له منځه ولاړه شي؛ دا په داسې حال کې ده چې پدې اړه د پخوانیو ناکامیو بېشمېره بېلګې شتون لري. له بلې خوا یو شمیر کسان داسې فکر کوي چې د ستونزې حل په قانوني کولو کې نغښتې دی – یعنې یو داسې چارچوکاټ رامنځته کول چې پر اساس یې تریاک او احتمالاً مخدره توکي په کنترول شوي حالت کې تولید شي؛ چیرې چې کېدای شي لدې لارې ترلاسه کېدونکې اقتصادي ګټې افغان حکومت او بزګرانو ته ورسېږي. په اصطلاح ددې دواړو ترمنځ منځنۍ ساحه هم لږ او ډېر ورته وضعیت لري، یعنې هغه کسان چې فکر کوي د مخدره توکو ستونزه د محدودو اقداماتو، لکه پراختیایي بدیل، چې په پخوا یې ډېرې لږې ګټې درلودلې دي، چې په ترسره کولو سره حل کېږي. لکه څرنګه چې دغه برخه به یې بیان کړي، د دغه ټولو غوراویو څخه یوه یې هم په نږدې راتلونکې کې د واقعیت پر بنسټ نده ولاړه او د مخدره توکو د تولید د ستونزې د حل اهمیت په لویه کچه په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او هغه چاپیریالي زمینه کې چې په افغانستان کې واقع کېږي، تر خپل سیوري لاندې راوستلې دي.

### ۲.۱ په تېر کې د طالبانو لخوا لګول شوي بندیزونه او پر تریاکو د یو بل بندیز د لګولو لرلید

طالبان ۱.۰

څینې داسې کسان شته چې د تېرو وختونو په ارمان دي او پدې عقیده دي چې کېدای شي طالبان، د پخوا په څېر، د کوکنارو پر تولید بندیزونه ولګوي. ۱۴ پخپله طالبانو هم د ۲۰۱۸ م کال د نوامبر په میاشت کې د مسکو د مذاکراتو پرمهال داسې وړاندیز مطرح کړ. ۱۵ حتی داسې یو نظر هم شتون لري چې د بشري حقونو او د ښځو د حقونو په څېر مسائلو برعکس، دا یوه داسې ساحه ده چې کېدای شي پکې طالبان او متحده ایالات، او په احتمالي توګه نور مرستندویه غربي سازمانونه یوې هوکړې ته ورسېږي. په داسې حال کې چې د مذهبي دلایلو په سبب ممکن د طالبانو د غوږ څنګ په لیکو کې د کوکنارو پر تولید د بندیز لګولو لیوالتیا شتون ولري، ترڅو په خپلو لیکو کې بالقوه بېلو شویو ډلو ته د پیسو د رسیدو مخه ونیسي، او د مرستندویه هیوادونو پام راجلب کړي، خو څرګنده ده چې د دوی لخوا د داسې څه کولو وړتیا تر ډېره محدوده شوې. دا د ۱۹۹۰م کلونو طالبان ندي چې وتوانېدل په سمدستي توګه پر کوکنارو بندیز ولګوي. هغوی چې د داسې یوې تګلارې د شونتیا احتمال ته اشاره کوي اړتیا لري ترڅو د تېرو تجربو څخه ښه پوهاوی ترلاسه او په اوسني وضعیت کې د هغوی په اړوند والي باندې پوه شي.

کوښښ، کوښښ، کوښښ، کوښښ، او بیا هم کوښښ

باید په یاد ولرو چې د طالبانو لخوا پر تریاکو د بندیز لګول څومره اوږدمهاله بهیر وو؛ او په یوه شپه کې اعلامیه صادر نشوه؛ بلکه مخکې تر دې چې په اغېزمنه توګه بندیز ولګول شي سمو حالاتو او صحیح شرایطو ته یې اړتیا درلوده. د یادونې وړ ده چې د ۲۰۰۰ م کال تر جولای پورې، یعنې هغه مهال چې د کوکنارو پر کرکیلې په اغېزمنه توګه بندیز ولګول شو، طالبانو په بېلابېلو مواردو کې تر پنځه ځله پورې د بندیز اعلامیې خپرې کړې وې چې د دوی نه یو ته یې هم خلکو غاړه کېنښوده.

د کوکنارو د بندیز په تړاو د طالبانو لومړۍ اعلامیه د ۱۹۹۴ م کال په وروستیو کې خپره شوه او حتی د واکمنۍ په لومړیو کلونو کې د دوی لخوا داسې یو بندیز لګول ته د کوکنارو پر کرکیلې د طالبانو د دراماتیکې اغیزې د وړتیا په سترګه کتل کېږي. ۱۲ حقیقت دا دی چې په ۱۹۹۴ م کال کې طالبانو د دې لپاره د کوکنارو پر کرکیلې بندیز نه وو لګولی چې په ۱۹۹۲م کې یې بېرته لغوه کړي. د ۱۹۹۴ م کال بندیز د دوی له لوري د داسې یو کار د ترسره کولو د نیت د څرګندونې پرته بل څه نه وو؛ او په ۱۹۹۲م کال کې د کرکیلې د کچې زیاتیده، چې د طالبانو له لوري د بندیز د لیرې کولو سره منسوبیږي، ندي واقع شوي. په حقیقت کې، په لومړي سر کې د بندیز په تړاو ډېری بحثونه په هغه مهال کې د تریاکو د کرکیلې د اټکل او د هغوی د کره توب پر سر د سوء تفاهم پر بنسټ ولاړ دي.

۱۴ اناتول لیوین "اوس یې وخت دی چې پر طالبانو اعتبار وشي" فارن پالیسي، ۳۱ جنوری ۲۰۱۹ https://foreignpolicy.com/۲۰۱۹/۰۱/۳۱/-its-time-to-trust-the-taliban/

۱۵ د مسکو په کنفرانس کې د اسلامي امارت د هیئت لخوا د ترسره شوې وینا متن، د ۲۰۱۸ د نوامبر ۹، https://alemarahenglish.com/?p=۳۷۳۱۲

۱۲ ونډا فیلباب-براون، مخ پر پورته ډزې کول: د تندلارۍ پر وړاندې مبارزه او د مخدره توکو پر ضد جګړه، واشنګټن ډي سي، د بروکنګز انستیتیوت مطبعه، ۲۰۱۰، ۱۳۲-۱۲۲ پاڼې؛ جانسن، کریس او لیزلي، جولیان، افغانستان: د سولې خیال، لندن: زیډ کتاب پلورنځی، ۲۰۰۴، ۲۹۳ پاڼه؛ الیکس سټریک فن لینډشوټن او فیلیکس کوهن، یو داسې دښمن چې مونږ پخپله رامنځته کړ: په افغانستان کې د طالبانو – القاعدې د یوځای کېدو افسانه، هرسټ: لندن، ۲۰۱۲، ۱۵۲پاڼه.



د هلمند ولایت د کجکی ولسوالی په
گندم ریز کی د هیروویینو کارخانه



د ننګرهار ولایت په خوګیاڼیو کی جنکیانی
د کوکنارو له بوټی نه تریاک را ټولوی.

لومړی، دا چی د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې اداره (UNODC) د **۱۹۹۴** کال سروې آزماېښتی بڼه درلوده؛ یعنی په سیمه کې د سروې کوونکو پواسطه په بصری بڼه د تریاکو د اټکل هڅه په داخلی توګه نیمګړې وپیژندل شوه: د کرکیلی په اړه راپور د مبالغې نه ډک وو، چی لامل یی د سروې او راتلونکو پروګرامونو لپاره د پیسو ترلاسه کول په ګوته کیږی. په **۱۹۹۵** کال کې د کرکیلې د کمښت راپورونو هم د تیر په څیر تر ډیره د اشتباهاتو او میتودولوژیکی بدلونونو پایله وه؛ له همدې امله د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د ادارې په آند د **۱۹۹۴** او **۱۹۹۵** م کلونو سروې ګانې د مقایسې وړ نه وې او له همدې امله «په محدوده کچه د خپرېدو» اجازه ورکړل شوه (UNDCP **۱۹۹۵**: and ii ۲).

دوهم، په داسې حال کې چی د **۱۹۹۴** او **۱۹۹۵**م کلونو ترمنځ د کرکیلې کچه په اټکلی توګه کمه شوې وه، د دې **۱۸/۱۸۱** هکتارو څخه **۱۵/۰۸۹** هکتارو ته کمښت په ختیځ افغانستان کې رامنځته شو، چیری چی طالبانو هغه مهال هیڅ سیمه په واک کې نه درلوده. په جنوب کې، کوم چی طالبانو په لومړی سر کې تر خپل تسلط لاندې راوستل، د کوکنارو کښت په کمه اندازه په هلمند کې (**۸**٪+) لوړه او په کندهار (**۳۸**٪-) او اروزګان (**۲۲**٪-) کې راټیټه شوه، خو دا د کرکیلی د نسبتاً ټیټې کچې څخه وه. پر دې سربیره، د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د ادارې د راپور پر اساس بزګرانو د دې کمښت اصلی لامل په ابتدایی توګه د تریاکو د نرخونو ټیټېدل او د غنمو د نرخونو زیاتېدل په ګوته کړل، او پدې برخه کې د طالبانو اعلامیې ناڅیزه ونډه درلوده. ۱۷ دربیم، دا چی په هلمند کې - چی هغه مهال هم د تریاکو د تولید عمده ولایت شمېرل کیده - طالبان د **۱۹۹۵**م کال د جنوری تر میاشتې یا په بل عبارت د کوکنارو د کرکیلې د موسم د پیل څخه تر څو میاشتې وروسته پوری پر خپلو مخالفینو بریالی نشول. پدې توګه طالبان پداسې وضعیت کی نه وو چی د کوکنارو پر کرکیلې یی بندیز لګولی وای، ولو که دوی د داسی څه د کولو اراده هم درلودلای.

۱۷ وګورئ د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندی د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC)، په افغانستان کې د کوکنارو کلنۍ سروې **۱۹۹۵**. UNODC: اسلام آباد. ۲۳ -۲۴ پاڼې.



په غزني کی د ایفدرین بوټي

بالاخره، د دې ترځنګ بله ننګونه دا وه چې د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۵م کلونو ترمنځ د کوکنارو په کرکیلې کې د ۲۹,۱۹۰ هکتارو څخه ۳۸,۷۴۰ هکتارو ته د زیاتوالی راپور ورکړ، چې پدې توګه په کندهار کې (د ۲,۲۲۲ هکتارو څخه ۳۰۵۰ هکتارو ته)، اروزګان کې (د ۳,۲۹۳ هکتارو څخه ۳,۲۴۰ هکتارو ته) او په ډراماټیکه توګه په هلمند کې (د ۱۲,۵۲۹ هکتارو څخه ۲۲,۷۰۰ هکتارو ته) د کوکنارو کرکیله زیاته شوې وه؛ ۱۸ خو نه د متحده ایالاتو حکومت او نه هم د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د ادارې اټکلونه د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۲م کلونو ترمنځ د کوکنارو په کرکیلې کې ډراماټیک زیاتېدل څرګندوی ترڅو وښیي چې د طالبانو لخوا لګلول شوی بندیز «پورته شوی وو». ۱۹

د ۱۹۹۴ م کال د "بندیز" وروسته طالبانو د کوکنارو د بندیز په اړه څلور نورې اعلامیې خپرې کړې: یوه یې د ۱۹۹۲ م کال په نوامبر کې، ۲۰ بله اعلامیه یې د ۱۹۹۷م کال په سپتامبر کې، د هغې په تعقیب یوه میاشت وروسته یو وضاحتی بیان خپور شو، ۲۱ او بیا د ۱۹۹۹ م کال په سپتامبر کې د ملا محمد لخوا د کوکنارو د کرکیلې په اندازه کې د یو پر درییمې برخې د کمښت په اړه اعلان صادر شو. ۲۲ د دغو په اصطلاح بندیزونو هر یو یې د هغه موثر بندیز سره ډیر توپیر لری چې د طالبانو لخوا په ۲۰۰۰/۲۰۰۱م کلونو کې ولګول شو؛ او دغه وروستی بندیز د نیت ښودنې ورهاخوا وو. د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ م کلونو ترمنځ د کرکیلې کچه د ۸۲,۰۰۰ هکتارو څخه ۸,۰۰۰ هکتارو ته راټیټه شوه، او دغه اقدام د ملګرو ملتونو او مرستندویه سازمانونو لخوا په ورته ډول وستایل شو. خو د دغو سرلیکونو لاندې یوه اوږدمهاله سیاسی پروسه شتون لری چې د هغه مهال پر افغانستان د طالبانو د واکمنۍ په اړه ډیر څه بیانوی او دا چې څرنګه حتی د واکمنۍ په اوج کې طالبانو په کلیوالی سیمو کې د پاشلی ماهیت یو سیاسی قدرت په لاس کې درلود.

۱۸ وګورئ د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، (د مخدره توکو د نړیوال کنټرول د استراتیژۍ راپور) ۱۹۹۵.

۱۹ د متحده ایالاتو د حکومت احصایې د ۱۹۹۵ او ۱۹۹۲ کلونو ترمنځ د کرکیلې په کچې د ۳۸,۷۴۰ هکتارو څخه ۲۷,۷۵۹ هکتارو ته زیاتوالی ښیي. اټکل شوې وه چې په هلمند کې د کرکیلې کچه تر ۵ سلنې ټیټه شوې وه. د ورته مودې په جریان کې د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) راپور ورکړ چې د کرکیلې کچه د ۵۳٫۷۵۹ هکتارو څخه ۵۲٫۸۲۴ هکتارو ته زیاته شوې وه او په هلمند کې کرکیله (د ۱۹٫۷۵۳ هکتارو څخه ۲۴٫۹۰۹ هکتارو ته) او په کندهار (د ۲٫۴۲۱ هکتارو څخه ۳٫۱۲۰ هکتارو ته) او اروزګان کې (۲٫۵۷۳ هکتارو څخه ۷٫۷۷۷ هکتارو ته) زیاته شوې وه. وګورئ د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، ‹د مخدره توکو د نړیوال کنټرول د استراتیژۍ راپور ۱۹۹۵› او د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC)، په افغانستان کې د تریاکو کلنۍ سروې ۱۹۹۷. UNODC: اسلام آباد.

۲۰ د ۱۹۹۲ کال د نوامبر په ۱۰مه طالبانو "د تریاکو د تولید، پروسس او انتقال او همدارنګه ناوړه ګټه اخیستنې پر وړاندې د دوی مخالفت اعلان کړ او ژمنه یې وکړه چې د سیمه ییز او نړیوالې همکارۍ او مرستو په چوکاټ کې به ټول هغه اقدامات تر لاس لاندې ونیسی ترڅو د مخدره توکو د پدیدې سره د مخدره توکو د کنټرول د نړیوالو تړونونو مطابق مبارزه وکړی" چې دا د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) په راپور کې ذکر شوی، 'په افغانستان کې د تریاکو د کمښت د پروژې د تطبیق لپاره استراتیژۍ راپور'، ۱۹۹۷ – ۲۰۰۰، د UNODC/ROSWA ناچاپ شوی راپور، د ۱۹۹۷ آګسټ، ۱۰ پاڼه.

۲۱ 'د ۱۹۹۷ کال د سپتامبر په ۱۰مه، د مخدره توکو د مخنیوی عالی دولتی کمیسیون داسی بیانیه خپره کړه: "د افغانستان اسلامی دولت ټولو وطنوالو ته خبر ورکوی چې د هیروئینو او چرسو کاروّنه په اسلام کې جواز نلری، دوی ته یو ځل بیا یادونه کیږی چې دوی باید په جدی توګه د هیروئینو او چرسو د کرلو، کارولو او سوداګرۍ څخه ډډه وکړي. هر هغه څوک چې د دې فرمان څخه سرغړونه کوی، باید د غرا محمدی شریعت د قانون سره سم مجازات شی او د شکایت حق نلری". وروسته بیا دا اعلامیه د یو وضاحتی بیان سره اصلاح شوه چې د ۱۹۹۷ کال په اکتوبر کې صادره، او د تریاکو پر کرکیلې او قاچاق یې په مشخصه توګه بندیز ولګاوه'. وګورئ د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې اداره (UNODC)، په افغانستان کې د تریاکو کلنۍ سروې ۱۹۹۸. د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې اداره: اسلام آباد. ۲ پاڼه.

۲۲ په فارال، ګ. او تورن،ج. (۲۰۰۵) کې ذکر شوی. ټول ګلان چیری تللی؟: په افغانستان کې د تریاکو د کښت پر ضد د طالبانو د ځپنې تکامل. د نړیوال مخدره توکو د پالیسۍ ژورنال ۱۲ (۲۰۰۵):۸۱ - ۹۱، ۸۵ پاڼه pdf.http://www.unawestminster.org.uk/pdf/drugs/UNdrugsfarrell_IJDP۱۲

**۲ جدول: د طالبانو لخوا لګول شوي بندیزونه او د هغوی د اغېزو لنډیز، ۱۹۹۴-۲۰۰۱**

| نېټه | د طالبانو بيانيه | په کرکيلې کې بدلون(UNODC) | نور عوامل چې پايلې يې اغېزمنې کړې | په ټوله کې د بيانيې اغيزه |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹۹۴ | د کوکنارو پر کرکيلې بنديز | کرکېله د ۲۹،۹۲۷ هکتار څخه ۵۳،۷۳۲ هکتار ته راټيټه شوه | کمښت تر ډېره په ننګرهار کې ځايي بڼه درلوده چيرې چې طالبانو هيڅ شتون نه درلود. | بې اغيزه |
| د ۱۹۹۲د نوامبر ۱۰ | د ترياکو د توليد، پروسس، قاچاق او ناوړه ګټه اخيستنې د مخالفت په تړاو د بيانيې صادرول او همدارنګه پدې تړاو د ټولو اړينو اقداماتو د نيولو ژمنه. | کرکېله د ۵۲،۸۱۹ هکتار څخه ۵۸،۴۱۷ هکتار ته لوړه شوه | | بې اغيزه |
| د ۱۹۹۷د سپتامبر ۱۰ | وطنوال يې د اسلامي اصولو پر اساس د هيروئينو او چرسو د کاروني او ممانعت په اړه پوه کړل او له همدې امله بايد دوی د هيروئينو او چرسو د کرکيلې، کاروني او سوداګرۍ څخه ډډه وکړي. | کرکېله د ۵۸،۴۱۷ هکتار څخه ۶۳،۶۷۴ هکتار ته لوړه شوه | | بې اغيزه |
| د ۱۹۹۷د نوامبر ۲۰ | د کوکنارو د کرکيلې د بنديز او قاچاق په تړاو د ځانګړو موضوعاتو په اړه سپيناوی. | کرکېله د ۵۸،۴۱۷ هکتار څخه ۶۳،۶۷۴ هکتار ته لوړه شوه | | بې اغيزه |
| ۱۹۹۹ | د کوکنارو په کرکيلې کې ۱/۳ کمښت اعلان | کرکېله د ۹۰،۰۰۰ هکتار څخه ۸۱،۹۸۳ هکتار ته راټيټه شوه | شديده وچکالي په ځانګړې توګه په سويېل لوېديځ او شمال کې: د غنمو او کوکنارو په نرخونو کې توپيرونه | لږ يا بې اغيز |
| د ۲۰۰۰ جولای | په سملاسي توګه د کوکنارو پر کرکيلې بنديز | کرکېله د ۸۱،۹۸۳ هکتار څخه ۷،۵۹۸ هکتار ته راټيټه شوه | شديده وچکالي: د غنمو او کوکنارو په نرخونو کې توپيرونه | د پام وړ اغيزه |

**په شپږم څل بختور**

په ۲۰۰۰م کال کې وضعيت د طالبانو لخوا پر کوکنارو د بنديز لګولو د تېرو هڅو سره توپير درلود. تر ټولو اړينه دا چې بنديز هغه مهال ولګول شو کله چې د غنمو نرخونه نږدې دوه چنده شوي وه،[۲۳] او د کوکنارو نرخونه تر هر بل وخت ټيټ وو. په ۲۰۰۰ م کال کې افغانستان د يوې پرلپسې وچکالۍ سره مخامخ وو او د پاکستان حکومت د ۲۰۰۰ م کال په پسرلي کې د يو بل موسم لپاره د پنجاب څخه شمال لوېديځ سرحدي ايالت (اوسمهال خيبرپښتونخوا) ته د اوړو پر انتقال بنديز لګولی وو تر څو پدې توګه افغانستان ته يې د قاچاق مخه ونيسي.[۲۴] په پايله کې، په افغانستان کې بزګران په زياتېدونکې توګه د خپل خوراکي خونديتوب په اړه اندېښمن ول او ويره يې درلوده چې آيا پدې به وتوانيږي چې د کوکنارو د کښت څخه د کمېدونکې عايد په واسطه غنم راونيسي. په داسې حالاتو کې - چې مونږ بيا بيا مشاهده کړې – بزګران له دې ويرې د کوکنار پر ځای د غنمو کرکيلې ته مخه اړوي، چې دوی به ونه توانيږي په ځايي بازار کې غنم وپلوري او خپلو کورنيو ته خواړه چمتو کړي. د ۲۰۰۰م کال په جون کې د ترياکو نرخونه د هر کيلوګرام پر سره ۳۰ ډالرو ته راټيټې شوې وې او د وچکالۍ ترڅنګ چې پر حاصلاتو يې پام وړ اغيزې درلودلې، بزګران په زياتېدونکې توګه د کوکنارو په شان د زيات لګښت کښت د کرلو ګواښ درک کړی وو، پداسې حال کې چې دوی زياتو عوايدو ته اړتيا درلوده ترڅو په مرسته يې تر هر بل وخت ګران بيه غنم وپلوري.

۲۳ نړيوال خوراکي پروګرام، '۱.۵ مليونه افغانان 'د خوړو د شديد کموالي' سره مخامخ دي'، د نړيوال خوراکي پروګرام خبري اعلاميه، ۱۱ فبروری ۲۰۰۰.

۲۴ د بيورو راپور، 'د غنمو پر انتقال بنديز په شمال لوېديځ سرحدي ايالت کې د اوړو بحران رامنځته کړی'، ۲۳ مارچ ۲۰۰۰، html#bano.mar۲۵/۲۰۰۰/https://asianstudies.github.io/area-studies/SouthAsia/SAserials/Dawn

له سیاسی پلوه د طالبانو حکومت یو منزوی رژیم وو او سره لدې چې په پراخه کچه د جګړې او وچکالۍ د اغېزو سره لاس او ګریوان وو، خو هیواد د بشرپالنې په تړاو مرستو د پام وړ کمښت سره مخامخ وو. د افغانستان د حکومت په توګه طالبان یوازې د درې هیوادونو یعنی پاکستان، متحده عربی اماراتو او سعودی عربستان لخوا په رسمیت پیژندل شوی وو، او د طالبانو په حکومت کې منځلارو عناصرو د ملګرو ملتونو او غړو هیوادونو لخوا په پراخه کچه د رسمیت پر پیژندلو ټینګار کیده. د ګوښه والی څخه د وتلو پخاطر د دوی ځینو کوښښونو - لکه په کندهار کې د کټمنډو څخه د برمته شوی الوتکې د یرغملو کسانو خلاصون، د ارتداد په تور د یو عیسوی مرستندویه ټولنې د غړو محاکمه، او حتی د اسلامی قوانینو پر بنسټ د اسامه بن لادن د محاکمه کولو وړاندیز - په بامیان ولایت کې د طالبانو په لاس د بودا د مجسمو د تخریب او د بشری او ښځو د حقوقو په تړاو د دوی د مخینې له امله له پامه وغورځول شول. د طالبانو له لوری پر کوکنارو بندیز د یو نړیوال بشرپالونکی اقدام په توګه منعکس او وړاندی شو، چی د دوی په آند غربی هیوادونه به یی په اړه شک ونکړی او د یو داسی اقدام په سترګه به ورته وکتل شی چی ملاتړ یی په سیاسی او مالی لحاظ اړین دی.[۲۵]

د کوکنارو د کرکیلې د کمولو لپاره د سمو اقتصادی حالاتو او د بندیزد عملی کولو د محرکاتو په برابریدو سره طالبانو د خپل سیاسی او نظامی موقف څخه په ګټې اخیستنې سره او همدارنګه د ملا محمد عمر یا امیرالمومنین د مذهبی مشرۍ پرمټ، پر یو پراخ بندیز ټینګار وکړ. تر دې مهاله طالبانو په کلیوالو سیمو کې ملاتړ ترلاسه کړی وو او په ډیرو هغو کلیو کې چیری چی کوکنار کرل کیدل خپل موقف ټینګ کړی وو. دوی د ځینو ځواکمنو قبایلو سره خبرې اترې پیل کړی وې، او دا هغه قبایل وو چی امکان یې درلود د نه توافق په صورت کې پر کوکنارو د بندیز په غبرګون کې مقاومت وکړی او ممکن هغه قبایل چی بندیز ته یی غاړه ایښې هم داسی یو کار ته اړ کړی. په ختیځ کې د شینوارو قبیله ډیره اغیزمنه او اړینه شمیرل کیده. دوی یو نسبتاً منسجم یا ټول قوم دی چی د ننګرهار جنوب ته په پنځو استراتیژیکو ولسوالیو کې کوم چی د پاکستان پر پوله پراته دی، اکثریت لری، او په ژوره توګه د کوکنارو په کرکیلې کې ښکېل دي. داسی ادعا هم کیده چی د بندیز د ملاتړ لپاره د دې قبیلې مشرانو پیسې اخیستی وې، او دوی ته د غربی مرستندویه ټولنو یو لوړ رتبه هیئت سره، کوم چی د بندیز او د هغې د اغیزو د بیاکتنې لپاره تللی وو، د محدودیت نه پرته لاسرسی ورکړل شو، چی پدې توګه شینوارو د هغوی څخه په مستقیمه توګه د پروژو غوښتنه وکړه. په سوېیلی حوزه کې، د هلمند د نادعلی ولسوالۍ – چی ډیر مهال په کال کې د ټول هیواد څلورمه برخه کوکنار تولیدوی – مشرانو ته د ملامحمد عمر سره د ملاقات لاسرسی ورکړل شو ترڅو دوی خپل مخالفت په ډاګه بیان او د مرستې غوښتنه وکړي.

وروسته لدې چی بالقوه ځواکمن رقیبان کمزوری او یا هم همکارۍ ته اړ شول، طالبانو د کښتونو د له منځه وړلو یو تګلاریز کمپاین په لاره واچوه. په لمړۍ توګه دوی ځینې هغه لوړې پرتې درې په نښه کړلې په کوم کې چی د کوکنارو تازه کښتونه کرل شوی وو. دا هغه سیمې وې په کومو کې چی مشران او ټبرونه لا له مخکې د دوی پلوی کوله؛ پداسی حال کې چی په پخوا کې د داسی بندیز د هڅو پر وړاندی مقاومت کیده. د داسې سیمو په نښه کول یو ډول نندااریز (نمایشی) اغیزه درلوده، یعنی له یوې خوا د ټیټو سیمو بزګران پدې قانع شول چی طالبان د کوکنارو د بندیز په اړه جدی دي، او له بله پلوه د کلیوالو سیمو خلک دې ته وهڅول شول چی په لومړی سر کې د کوکنارو د کرکیلې څخه ډډه وکړي. د کرکیلې د موسم په پیل کې طالبانو داسې مهال پر کوکنارو د بندیز اقدام وکړ چی لا بزګرانو د کوکنارو پر کښت ډیر وخت او سرچینې نه وې لګولي چی بیا وروسته یی د تخریب ننداره وکړي؛ او همدارنګه دوی دا فرصت هم درلوده ترڅو د ژمی د موسم د را رسېدو نه مخکې بل څه وکري. د دې تګلارې له برکته د پراخې نارضایتۍ د ګواښ مخه ونیول شوه؛ او دا داسی څه وو چی طالبانو غوښتل ترې ډډه وکړی ځکه دا د هغه انځور د خرابیدو سبب کیده چی دوی په ځانګړی توګه بهرنی نړۍ ته وړاندی کړی وو، یعنی دا چی دوی د کلیوالو او لیری پرتو سیمو بشپړ واک په لاس کې لري.

البته حقیقت بل ډول وو. هغه مهال چی طالبانو په جنوب کې د خپل ځای ځایګي څخه د هیواد نورو سیمو ته واک وغځوه، دوی خپل ځینی مخالفین په نظامی توګه وځپل، خو د ځینو نورو سره سیاسی جوړجاړی ته ورسېدل. که څه هم قومی او نظامی مخکښانو د طالبانو واک ته غاړه کېښودل، خو ډیر مهال د دوی په اختیار کې سیاسی او نظامی ځواک ته په کتو سره په مختلفو درجو ځانواکی ورکول کیده.[۲۶] پر دې سربیره، ترسره شوی جوړجاړۍ پر خپل حال نه پاتې کیده او په دومداره توګه یی بدلون مونده، په ځانګړی توګه د ۱۹۹۰ م لسیزې په وروستیو کې، ځکه چی طالبان په زیاتېدونکی توګه د ناراضیو او مالی ستونزو سره مخامخ وو.[۲۷]

۲۵ ډېویډ منسفیلد، پر شګو جوړ یو دولت: تریاکو څرنګه افغانستان کمزوری کړ.

۲۶ جانسن، س او لیزلی، ج. (۲۰۰۴) افغانستان: د سولې خیال. لندن: زېډ کتاب پلورنځی، ۱۴۵ پاڼه؛ کریوز، ر.د. او طرزی ا. (چاپ.، ) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۱۱۱ - ۱۱۲ پاڼې.

۲۷ فرانسس ویندرل، شخصی مراسلې ۲۴ اپریل ۲۰۰۱؛ کریوز، ر.د. او طرزی ا. (چاپ.، ) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۲۲۲ او ۲۲۵پاڼې.

په داسې حال کې چې د طالبانو لخوا لګول شوی بندیز د دوی له لوري پر سیمو د کنټرول د ټینګیدو اغیزه وړاندې کړه، د شواهدو او معلوماتو پر بنسټ راپورونه پر بل ډول حقایقو ټینګار کوي، او استدلال کوي چې د طالبانو اداره غیر فعاله او نیمګړې وه.[28] وزارتونو تر ډیره په نمایشي (ننداریز) بڼه شتون درلود؛ یعنې د بودیجې، تګلارې (پالیسي ګانې) او ګټورې بیوروکراسۍ د نشتوالي سره مخامخ وو. برعکس، د ټولنیزو خدماتو د وړاندې کولو او په ځینې مواردو کې د زیربنایي پروژو د عملي کولو په برخه کې رژیم تر ډیره پر مرستندویه ټولنو (لکه انجیوګانو او ملګرو ملتونو) تکیه درلوده. پر دې سربیره، په کابل کې خپل شوي تګلاریز موقفونه به ډیر ځله په کندهار کې د رهبرۍ لخوا، چې یوه تندلارې اجنډا یې درلوده، له پامه غورځول کیده. په کلیوالو او لیرې پرتو سیمو کې د عملي کارونو د ترسره کولو (عملي توب) لپاره لیدلوری د پام وړ وو ځکه نادولتي مرستندویه ټولنو او ملګرو ملتونو په هغو سیمو کې ښځو او انجونو ته د پوهنې د خدماتو وړاندې کولو ته دوام ورکړی وو، او هلته ځایي مشران او ټولنې د ملا محمد عمر د فتواګانو په نسبت د دوی د کارونو ډیر زیات ملاتړي او عملي کوونکي وو. حتی په کلیوالو سیمو کې د وګړو د بې وسلې کولو ادعاوې تر ډیره د مبالغې نه ډکې وې، په ځانګړې توګه هغه کسان چې په غرنیو سیمو کې اوسېدل خپلې وسلې یې ساتلي وې خو پدې یې هوکړه کړې وه چې تر هغه مهاله چې طالبانو امنیت ساتلی وي، دوی به په عامه ځایونو کې د وسلو سره نه ښکاریږي. لکه څنګه چې مېلې (۲۰۰۲:۲۱۷) یادونه کوي: دا ادعا چې طالبانو د افغانستان ډیرې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې وې ګمراه کوونکې دی، ځکه په کلیوالو سیمو کې د دوی شتون ناڅیزه وو.[29]

په حقیقت کې د طالبانو رژیم، او له هغې وړاندې نور افغان حکومتونه، د ګواښ او خبرو اترو د ترکیب په مرسته واکمني کوله. په ټیټو پرتو سیمو کې، چې د سوداګرۍ د اړینو لارو او سیند لرونکو درو په امتداد پرتې دي، طالبانو په آسانۍ سره کولای شول چې خپله اراده پر وګړو وتپې ځکه دغه سیمې د لاسرسي وړ وې او د پخوا راهیسې پکې بیلابیل قومونه میشت وو - کیدای شي دغه سیمې د «دولت فضا» په توګه وګڼو ځکه پخوانی رژیمونه هم توانیدلي وو نسبتاً په آسانۍ سره دوی اداره کړي. خو په غرنیو سیمو کې وګړي زیات منسجم (یو موټی) دي، او ډیر ځله پکې یوه قبایلي ډله اوسیږي، او په تاریخي توګه ورته ډیره ځانواکي ورکړل شوې دي. په دغو لیرې پرتو سیمو کې، د ولسوال په دفتر کې د لږ شمیر وسلوالو کسانو د شتون پرته د طالبانو د واکمنۍ لږې نښې نښانې تر سترګو کیدلې. په دغو سیمو کې د طالبانو رژیم، د تېرو حکومتونو په شان، د مهارولو یوه تګلاره خپله کړې وه چې له مخې یې د کلیوالو سیمو د مشرانو سره همکاري کیده ترڅو ناراضه کسان همکارۍ ته اړ او یا هم د دوی اغیزه خنثی شي.[30]

همدارنګه پر کوکنارو بندیز په داسې یو وخت کې عملي شو چې د طالبانو د واکمنۍ پر وړاندې د خلکو غوصه او نارضایتي حتی په پښتون میشته سیمو کې مخ پر زیاتېدو وه.[31] په تېر کې د مجاهدینو د دورې په څیر، په اجباري ډول د نظامي خدمت ترسره کول په زیاته کچه د طالبانو پر وړاندې کرکه پارولې وه، په ځانګړې توګه هغه مهال چې ډیری کسان په شمال کې د جګړو له امله وژل کیدل.[32] د فزیکي امنیت د ښه والي سره سره د اقتصادي ثبات په راوستلو کې د طالبانو پاتې راتلل د خلکو ترمنځ په زیاتېدونکې توګه ناهیلۍ راټوکولې وې. د فساد موارد تر ډیره زیات شوي وو او د دوی د واکمنۍ پر مهال حتی په هغو سیمو کې چې د طالبانو د قلمرو مرکز بلل کیدل یو شمېر وسلوال بغاوتونه هم ترسره شول، چې پکې د کندهار ولایت ارغنداب ولسوالي او د هلمند ولایت کجکي ولسوالۍ شاملې وې.[33] حتی د مرستندویه ټولنو لخوا د بندیز د پلټنې د ماموریت پر مهال، په ختیځ کې د طالبانو مشران اړ شول ترڅو په اچین کې د مهمندو او پیخر د درو څخه د هیئت د لیدنې پخاطر د ځایي مشرانو سره د هیئت د خوندي تګ راتګ په اړه خبرې اترې وکړي، چې پدې سیمې کې د بندیز په غبرګون کې مدني نافرمانۍ، د سوداګرو او د مخدره توکو د مرکزونو شتون، او د وسلو د راخورېدو راپورونه د دې سبب شو چې د هیبت د ځینو لوړ رتبه ډیپلوماټانو د امنیت او هوساینې په اړه د طالبانو اندیښنې وپاروي.[34]

۲۸ رشید، ا. (۲۰۰۱). طالبان اسلام، نفت او په مرکزي آسیا کې یوه نوې ستره لوبه. لندن: IB Tauris، ۲۱۲ پاڼه؛ جانسن، س او لیزلي، ج. (۲۰۰۴) افغانستان: د سولې خیال. لندن: زیډ کتاب پلورنځی،۱۵۲-۱۵۳ پاڼې؛ ډونیني،ا.، نیلانډ،ن. او ورمیسټر، ک. (چاپ.،) (۲۰۰۴). ملت جوړونه حل شوه؟ مرستې، سوله او عدالت په افغانستان کې. کنکټیکټ: کماریان مطبعه، ۱۹۰ پاڼه؛ او مرسډن،پ. (۱۹۹۸) طالبان جګړه، مذهب او په افغانستان کې نوی نظم. لندن: زیډ کتاب پلورنځی، ۹۳ پاڼه.

۲۹ مالې، و. (۲۰۰۲). د افغانستان جګړې. لندن: پالګریو مکمیلان.


۳۰ بارفیلډ، ټ. (۲۰۱۰). د افغانستان یو سیاسي او کلتوري تاریخ، پرنسټون، د امریکا متحده ایالات: د پرنسټن پوهنتون مطبعه.

۳۱ رشید، ا. (۲۰۰۱). طالبان اسلام، نفت او په مرکزي آسیا کې یوه نوې ستره لوبه. لندن: IB Tauris؛ کریوز، ر.د. او طرزي ا. (چاپ.،) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۲۵۹-۲۲۸ پاڼې.

۳۲ فرانسس ویندرل، شخصي مراسلې ۲۴ اپریل ۲۰۰۱؛ کریوز، ر.د. او طرزي ا. (چاپ.،) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۲۲۲ او ۲۲۵پاڼې.

۳۳ کریوز، ر.د. او طرزي ا. (چاپ.،) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۲۲۲ پاڼه، مانسفیلډ، ډ. (د ۲۰۰۱ مې). په افغانستان کې د تریاکو پر کرکیلې د طالبانو لخوا د لګول شوي بندیز اغیزه. ناچاپ شوی راپور چې په افغانستان کې د مرستندویه سازمانونو د ماموریت لپاره چمتو شوی وو، ۲۳ اپریل – ۴ مې ۲۰۰۱، ۲۸ پاڼه.

۳۴ ’د طالبانو د بندیز پر مهال د ساحوي کار په جریان کې د طالبانو یو قوماندان د اچین ولسوالۍ په پیخر دره کې ووژل شو او طالبانو د هیئت غړو ته سپارښتنه وکړه ترڅو سیمې ته سفر ونکړي.‘



د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالی د مهمند دری په اسد خیلو کی د تالکو زیرمی
(له هغه نه مخکی چی د خراسان اسلامی ولایت دا زیرمی په دغه دره کی بندی کړلی).

د طالبانو په رهبرۍ کې هم اختلافاتو شتون درلود، چې دغه رهبري د ۱۹۹۰ م کلنو په وسط کې د مطلق تندلارو کندهاري مشرانو څخه یوې داسې ډلې ته بدلون موندلی وو چې پکې بیلابیلې مختلفې ډلې شاملې وې، چې پدې ډله کې د خلق ګوند څخه پخواني کمونستان هم شامل وو، چا چې د هیواد لپاره په حتمي توګه ورته اخلاقي او ټولنیز نظر نه درلودل.[۳۵] په کندهار کې د (تندلارو) چې مشري یې ملا محمد عمر په غاړه درلوده او په کابل کې میشت د ملا رباني د (منځلارو) ډلې ترمنځ د اختلافاتو راپوررونه ورکول کېدل.[۳۶] دغه اختلاف تر دې حده رسېدلی وو چې رشید (۲۱۲:۲۰۰۱) د دې احتمال لیده چې ممکن منځلارې به د ملا محمد عمر پر ضد کودتا وکړي.

باید په یاد ولرو چې د بندیز لګول د کلیوالو ټولنو، طالبانو، او د کلیوالو سیمو د هغو مشرانو ترمنځ د اړیکو ماهیت بدل کړ چا چې په دغو سیمو کې د بندیز د لګولو په برخه کې ونډه لوبولې وه. په داسې حال کې چې د کلیوالي مشرانو او ځایي وګړو سره د چانې وهلو پر مهال ګواښ یو اړین عنصر بلل کیده، خو له هغې څخه یوائې په قاطعیت سره د همکارۍ د هڅولو پخاطر کار اخیستل کیده. په دغو خودمختاره سیمو کې د خلکو د رضایت د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو زیات اړین عنصر د ملاتړ احتمال او د راتلونکو پراختیایي مرستو څخه د پیسو ورکړه وه. دا تمه چې پراختیایي مرستې به په نږدې راتلونکې کې ترسره شي د ټولنې په ټولو سطحو کې زیاته وه، خو په ځانګړي ډول د کلیوالو خلکو او هغو اړینو قبایلو لکه شینوارو ترمنځ کوم چې په ختیځو سیمو کې یې د بندیز لګولو په برخه کې اساسي ونډه لوبولې وه، زیاته وه.

په پای کې پر کوکنارو بندیز د هغه سیاسي جوړجاړي د بدلون سبب شو کوم چې د طالبانو او د دوی د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د ډیرو کلیوالو سیمو ترمنځ ورباندې هوکړه شوې وه. که چیری دغه بندیز پر خپل ځای پاتې شوی وای، نو د دې احتمال وو چې د دغو لیری پرتو سیمو سیاسي او مالي ځانواکي یې ننګولی وای او دوی یې د مرکز پر ملاتړ ډاډمن کړي وای. د ځواک پر مټ د وګړو د غاړې ایښودلو د وړتیا په نشتون کې - په ځانګړي توګه هغه خلک چې په غرنیو سیمو او پولو کې اوسیږي او چیری چې د افغان حکومت واکمني مدام محدود پاتې شوې دی - او د اړینو پراختیایي کارونو لپاره د پیسو نشتون چې په مرسته یې د ځایي مشرانو ملاتړ جلب شي، او همدارنګه د دې لپاره چې پر زیات شمیر کلیوالو وګړو د بندیز اغیزې کمې شي، د دې لړه شونتیا ښکارېده چې دغه بندیز به د یو بل کال لپاره هم دوام وکړي. د داسې شواهدو پرته چې جوت کړې وای

۳۵ ګوډسن،ل.پ. (۲۰۰۱) د افغانستان نه تمامېدونکې جګړه: د دولت ناکامي، سیمه ییز سیاست، او د طالبانو ظهور. سیاټل: د واشنګټن د پوهنتون مطبعه، ۱۰۷ پاڼه.

۳۶ کریوز، ر.د. او طرزي ا. (چاپ.،) (۲۰۰۸). طالبان او د افغانستان بحران. کمبریج: د هاروارد پوهنتون مطبعه، ۲۳۸ – ۲۷۳ پاڼې؛ نجومي،ن. (۲۰۰۲) په افغانستان کې د طالبانو ظهور: د خلکو بسیج، کورنۍ جګړه، او د سیمې راتلونکې. نیویارک: پالګریو، ۱۷۹ – ۱۸۱ پاڼې؛ ګنون، ک. (۲۰۰۵). ا د کافر لپاره دی: د سپېڅلې جګړې څخه تر سپېڅلې ترهګرۍ پورې: ۱۸ کاله په افغانستان کې دننه. نیویارک، د امریکا متحده ایالات: ولسي چارې، ۵۱-۲۵ پاڼې؛ ډونیني،ا.، نیلانډ،ن. او ورمیسټر، ک. (چاپ.،) (۲۰۰۴). ملت جوړونه حل شوه؟ مرستې، سوله او عدالت په افغانستان کې. کنکټیکټ: کماریان مطبعه، ۱۹۰ پاڼه.

چې د کليوالو مخ پر ځوړ خلکو اقتصادي حالت به دوام ونکړي، په سرحدي سيمو کې د ترسره شوو ماتېدونکو معاملو دوام به ستوزمن کار وای. ستو مزمنه ده چې باور وکړو که چيرې پراختياي مرستې نه وای ترسره شوې، نو طالبان به د اړينو قبايلي مشرانو لخوا تر زيات سياسي فشار لاندې نه وای راغلي ترڅو بنديز پورته کړي، او دا چې د طالبانو رهبري به نه وای تسليم شوې، په ځانګړې توګه دې حقايقو ته په کتو سره چې په افغانستان او سيمه کې دننه وسلو ته لاسرسي شتون درلود، شخړه روانه وه، او د طالبانو په غورځنګ کې داخلي اختلافات څرګند شوي وو.

د ۲۰۰۱ م کال په مني کې د دوهم کال لپاره د دغو شرايطو په شتون کې د بنديز د لګولو په اړه د کليوالو مشرانو او طالبانو د رهبرۍ ترمنځ خبرو اترو به يو د پام وړ ننګونه رامنځته کړې وای. د طالبانو رهبرۍ، قبايلي مشرانو او ځايي مشرانو د بنديز په بهير کې پدې تمه زياته سياسي پانګونه کړې وه چې دوی به په بدل کې پراختيايي ګټې ترلاسه کړي. کوم ډول مقاومت چې د ۲۰۰۱ م کال په پسرلي کې د اچين ولسوالۍ په پورتنيو سيمو کې وليدل شوه، په آسانۍ سره کيدای شو په يو پراخ کليوالي پاڅون بدل شي کوم چې ممکن د طالبانو د حاکميت هغه انځور يې ننګولی وای چې دوی په کور دننه او نړيواله کچه ښودله. په حقيقت کې د ۲۰۰۱ م په اپريل کې داسې راپورونه وو چې حاجي قدير د پولې د بلې غاړې نه د افغانستان ختيځو سيمو ته وسلې راليږي، او د هيواد په نورو سيمو کې د نارضايتي احتمال هم ډير زيات وو. د طالبانو لخوا لګول شوي بنديز پر وګړو اقتصادي فشار وارد کړی وو، او داسې ويره هم وه چې کيدای شي لدې څخه په کور دننه او د پولې هاخوا مخالفې ډلې ګټه پورته کړي. لکه څرنګه چې فرانسس ويندرل د بنديز پر مهال يادښت کړی وو، د هغه څه په اړه چې نوموړي وليدل داسې يې فکر کاوه «د کليوالو وګړو ترمنځ د بغاوت مزاج» «طالبان به مذهبي سپېڅلتوب ته د دوی پر نظامي عزائمو (موخو) لومړيتوب ورنکړي». ۳۷

طالبان۲.۰

په تېر کې د طالبانو لخوا پر کوکنارو د بنديز د هڅو حقايقو ته په کتو سره، آيا دوی کولای شي نن ورځ داسې يوه ورته تګلاره (پاليسي) عملي کړي، لکه څنګه چې ځينو ورته اشاره کړې او د دوی مشرانو په مسکو کې اعلان وکړ؟ د يو شمېر دلايلو پر اساس، داسې څه تر ډيره ناشونې ښکاري.

لومړی دا چې په ۲۰۱۹م کال کې طالبان هغه يو موټي والي (انسجام) چې دوی په ۱۹۹۰م کلونو پر مهال درلودل، اوس نلري. مونږ بايد د ۲۰۱۸ م کال په اختر کې د طالبانو لخوا د عملي شوي بنديز په سبب اغفال نشو. ملا عمر مړ شوی دی، او نني رهبري هيڅ هغه مذهبي اختيار او اعتبار کوم چې اميرالمومنين درلوده، نلري. د طالبانو غورځنګ د ۱۹۹۰م کلونو په پرتله اوس ډير زيات ويشلی دی. د طالبانو په رهبرۍ کې دننه سيالۍ شتون لري او په ځايي کچه د بې شميره تګلارو او کړنو شتوالی ښيي چې د دوی په ليکو کې په زياته پيمانه عدم تمرکز او ځايي ځانواکي شتون لري. د يوې مرکزي قوماندې او کنترول په نشتون کې، ستو مزمنه ده چې قبول کړو ډيری هغه قومندانان چې د جګړې په لومړۍ کرښه کې جنګيږي اراده به ولري چې د کوکنارو کرکيله ترک کړي او هغه مالي خپلواکي له لاسه ورکړي چې دوی په کويټې، پيښور او نورو ځايونو کې د طالبانو د رهبرۍ په دستور، پر کوکنارو د ماليې له لارې ترلاسه کړې. د دوی د پخواني ظهور (راڅرګند يدو) پر مهال، ۲ کاله وخت، د هيواد پر ۹۰ سلنه خاورې کنترول، او پرلپسې خو له پامه غورځول شوي د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې ته اړتيا وه ترڅو طالبان وکولای شي د ۲۰۰۱/۲۰۰۰ م په کلونو کې د کوکنارو د کرکيلې د موسم پر مهال يو ګټور بنديز ولګوي. او حتی هغه مهال، کومې هوکړې چې ترسره شوې وې، دوی يې د سياسي مخالفت او نارضايتۍ پر وړاندې په زيانمن حالت کې واقع کړل. د سولې نني پروسه حتی په ابتدايي پړاو کې هم نده او دومره زيات ناآشنا خواوې پکې ښکېل دي چې د طالبانو د سيمه ايزو قومندانانو څخه پر کوکنارو د بنديز په تړاو د ملاتړ ترلاسه کول ستونزمن ښکاري.

دوهم، دا چې که چيرې طالبان پر کوکنارو بنديز ولګوي، نو هماغه قومندانان به د ځايي بزګرانو د غوصې او قهر سره مخامخ شي. داسې موارد ډير ځله تر سترګو شوي، نه يواځې په ۲۰۰۱م کال کې، بلکه تر هغې را وروسته د کرزي د اداري د مشرۍ پرمهال په ننګرهار، هلمند او بلخ ولايتونو کې د بنديزونو په جريان کې داسې پيښې واقع شوې. په ځينې مواردو کې، په سخته توګه د کوکنارو پر کرکيلې د بنديز عملي کول د دې سبب ګرځېدلی چې ځايي مشران د ټولنې د مشرانو په توګه نه يواځې د خپل مقام څخه، بلکه د هغو درو څخه چې دوی پکې اوسېدل، هم وشړل شي. د بيلګې په توګه، هغه ونډه چې قبايلي مشرانو په ننګرهار کې د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۰ م کلونو پر مهال د کوکنارو پر کښت د بنديز په برخه کې ولوبول، د اچين ولسوالۍ د برو درو څخه د دوی د شړل کيدو سبب شو. په ډيرو مواردو کې د کوکنارو د کښت پر بنديز ټينګار د ځايي وګړو لخوا د وسلوالو ډلو او په پام وړ توګه د طالبانو څخه د مرستې د غوښتلو سبب ګرځيدلی ترڅو د کښتونو د له منځه وړلو په برخه کې د حکومت د وړتيا مخه ونيسي.

په حقيقت کې، په تيره لسيزه او يا هم له هغې نه په زياته موده کې طالبان په دې لټه کې دي ترڅو د افغان حکومت او غربي مرستندويه سازمانونو د

۳۷ فرانسس ويندرل، شخصي مراسله د ۲۰۰۱ کال د اپريل ۲۴مه.

مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د تګلارې، او د دې مفکورې څخه چې د کوکنارو د کښتونو له منځه وړل باید په لومړي سر کې ځای ولري، ناوړه ګټه پورته کړې. پدې کړنو سره دوی غواړي چې بزګران د کوکنارو کرکیلې ته وهڅوي او د کښتونو د خوندیتوب وړاندیز وکړي، ترڅو ددوی ملاتړ جلب کړي. پدې توګه طالبان د داسې موقف په غوره کولو سره غواړي ترڅو ځانونه د هغو کلیوالو وګړو د ژغورونکو په توګه څرګند کړي چې کښتونه یې د تخریب د ګواښ سره مخامخ دي؛ او دوی هڅه کړې ترڅو ځانونه د یو داسې غورځنګ په توګه معرفي کړي چې د افغان حکومت په پرتله، کوم چې دوی ورته د امریکایانو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې «لاسپوڅی» وایي او د وګړو هوساینه له پامه غورځوي، په کلیوالو سیمو کې د خپلو وطنوالو په اقتصادي اړتیاوو خبر دي. که چیرې دوی له خپل موقف څخه بیرته وګرځي او د کوکنارو پر تولید بندیز اعلان کړي، نو ستونزمنه ده چې ووینو د طالبانو رهبري، او په خاصه توګه د دوی ځایي قومندانان او سرتیري کوم چې د بزګرانو په منځ کې اوسیږي، خپل اقتدار او اعتبار به د داسې کلیوالو خلکو په منځ کې وساتي کوم چې دوی سره یې د جګړو پر مهال مرستې کړې دي. دا یو داسې وضعیت دی چې نورې وسلوالې ډلې، او یا هغوی چې د طالبانو دننه د جوړجاړي مخالف دي، هغوي به ورڅخه د ګټې اخیستنې هڅه وکړي؛ دا هغه څه دي چې د طالبانو رهبري به یې لدې ویرې د مخنیوي هره هڅه وکړي چې د دوی دننی اختلافات څرګند او لاخراب نشي. کیدای شي داعش یو له همدې وسلوالو ډلو څخه وي. په داسې حال کې چې داعش په سیمه ایزه کچه په ځینی سیمو لکه د ننګرهار په بر اچین کې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۷م کلونو ترمنځ د کوکنارو پر کرکیلې ځایي بندیز لګولی وو، خو په افغانستان کې د خراسان اسلامی دولت نور عناصر دومره مفکوروي ندي ثابت شوي او کیدای شي د کوکنارو د کرکیلې څخه ملاتړ وکړي ترڅو د سرکښو قومندانانو او سرتیرو او همدارنګه د هغو بزګران ملاتړ ترلاسه کړي کوم چې پر کوکنارو د راتلونکی بندیز سره مخالف دي.

دریم، په ډیرو هغو سیمو کې چې د کوکنارو کښتونه پکی متمرکز دي، د کوکنارو د کرکیلې لپاره کوم عملي بدیل شتون نلري، په ځانګړې توګه د سویېل لویدیځ په دښتی سیمو کې چیرې چې تر ۲.۴ ملیونه پورې وګړي پر کوکنارو د عاید، خوندي ځای، خوراک او اوبو د عرضې پخاطر تکیه لري. همدا دوامداره ستونزه ده: د تریاکو په نشتون کې به بزګران څه کوي؟ که څه هم د سولې د راتګ په صورت کې د پراختیایي مرستو د زیاتوالی ژمنې شوې، خو هغه کسان چې تر ډیره د ژوندانه لپاره د کوکنارو پر عاید متکي دي په پخوا کې ډیر ځله داسې خبرې آوریدلي او د مالي تمویل ستونزې، اداري فساد او دا چې د مرستو ډیره برخه د کلیوالو سیمو مشرانو لاس ته لویږي، له دغه شان پایلو څخه مدام ناهیلي شوي دي. دوی د غربي مرستندویه ټولنو او پرلپسې افغان حکومتونو څخه دا اعلامیې آوریدلي چې د کوکنارو د کمښت په صورت کې به د دوی سره په زیات مقدار مرستې وشي خو وروسته بیا د ژمنې شوې اندازې څخه لږه مرسته ترسره شوې، او کومه لږه مرسته هم چې را رسیږي په هغو سیمو کې ویشل کیږي کوم چې د ولایتي مرکز سره نږدې موقعیت لري او چیرې چې بزګران د خپل ژوندانه لپاره پر کوکنارو لږ تکیه کوي، او یا هم په لیرې پرتو سیمو کې هغو شتمنو بزګرانو ته رسیږي کوم چې د ګوزارې لپاره نورې شتمنۍ او عواید په واک کې لري. دا یو داسې چاپیریال ندی چیرې چې د کوکنارو د کمښت سره تړلې «د سولې ګټې» به د سیاسي ملاتړ د راجلبولو سبب شي او یا هم په کلیوالو سیمو کې د ښه راتلونکی په اړه هیلې را وټوکي. هیله به د تیر مهال پر سختو تجربو بریالۍ نشي.

د شک پرته که چیرې طالبان پر کوکنارو د بندیز لګولو تکل وکړي نو په هغه صورت کې به د زیاتو پراختیایي همکاریو وړاندیزونه وشي، په ځانګړې توګه د متحده ایالاتو د حکومت له لوري، خو حقیقت دا دی چې دغه ډول مرستې په اصطلاح د زخم د پټۍ پرته بل څه ندي – یعنی لنډمهاله او یوې برخې ته ځانګړې شوې مرسته ده چې موخه یې پر هغو کسانو د سیاسي فشار کمول دي چې پر کوکنارو د بندیز د لګولو سره یې هوکړه کړې. د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱م کلونو پر مهال د هلمند د خوړو زون (HFZ) د پروګرام عملي کېدل، داسې یو ورته نوښت وو. بزګرانو ته د کیمیاوي سرې او غنمو د تخمونو په برابرولو سره د پروګرام موخه دا وه ترڅو د هغه مهال د والي ګلاب منګل لپاره ملاتړ زیات شي، او پدې توګه نوموړې یوه داسې مبارزه په لاره واچوي چې موخه یې د دې ناقانونه کښت د کرکیلې مخنیوی او له منځه وړل وه. د هلمند د خوړو زون د مرکزي هلمند د کانال پواسطه خړوبېدونکو سیمو کې دننه د کوکنارو د دراماتیکی کمښت سره مرسته وکړه، خو بې ځمکې بزګران یې نور هم بېوزلی کړل، او دوی یې دې ته اړ کړل ترڅو د پخوانی دښتې په سیمو کې د ځمکې په لټه کی شي، چیرې چې دوی د کوکنارو لازیاتې کرکیلې ته مخه کړه. له همدې امله باید په لنډه توګه وویل شي چې د هلمند د خوړو زون د کوکنارو د تولید د زیاتېدو لامل شو. داسې ښکاري چې د مخدره موادو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې ادارې (UNODC) هم د مشروع معیشت پواسطه د متبادل پراختیایي اقدام د پیاوړې کولو(BADILL) د پروګرام له لارې، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست (INL) لخوا تمویلیږي، ورته لنډمهاله او یوې برخې ته د ځانګړې شوې مرستې تګلاره تعقیبوي. دا تګلاره هم پراختیایي مرستې په مستقیمه توګه د کوکنارو د کمښت سره تړي چې دا یوه داسې تګلاره ده کوم چې د کوکنارو د تلپاتې کمښت لپاره د اړینو متنوع معیشتونو په برابرولو کې په پرلپسې توګه بې اغیزې جوّته شوې. [۳۸]

۳۸ د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د تجربې څخه سبقونه، د ۲۰۱۸ جون، ۱۰۸ – ۱۰۹ پاڼه https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-۱۸-۵۲-LL.pdf

## ۲.۲ د یوې تنظیموونکې ادارې په نشتون کې د کوکنارو د کښت قانوني کول

د کوکنارو د کښت قانوني کول یا تنظیمول د هغو کسانو لپاره یوه بله تګلاریزه غوراوی دی چې غواړي په افغانستان کې د مخدره توکو ستونزه حل کړي؛ او د بندیز د ناکامۍ په صورت کې د یو ساده حل لارې په لټه کې کسانو لپاره غوره تګلاره ده.

خو سره لدې، د کوکنارو د قانوني کولو لپاره یو ځواکمن حکومت او بنسټیزې ورتیا ته اړتیا شته، او دا هغه څه دي چې په راتلونکو څو کلونو کې به په افغانستان کې شتون ونلري، حتی که یو سیاسي جوړجاړی هم رامنځته شي. د افغانستان په ډیرو هغو سیمو کې چې اوسمهال پکې کوکنار کرل کیږي د دولت ناڅیزه شتون او د قانوني کولو او تنظیمولو لږ وړتیا لري؛ او نه هم دولت دا وړتیا لري چې د قانون د دایرې څخه په بهر سیمو کې پر کرکیلې لګول شوی بندیز عملي کړي. د افغانستان د سویېل لوېدیځ په پخوانیو دښتو کې، چیرې چې د کوکنارو د کښتونو تمرکز زیات دی، د دولتي ادارو په نامه هیڅ شی شتون نلري، او د فراه ولایت د بکوا په څېر سیمو کې حتی د طالبانو سلطه هم د مسلط نورزي قوم سره د طالبانو د خبرو اترو په پایله کې منل شوې. البته تر ډیره د دې شونتیا شته چې حتی که چیرې یو راتلونکې حکومت د قانوني کولو تګلاره وځاري بیا به هم د افغانستان په ډیرو سیمو کې د کوکنارو تولید ادامه ومومي، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې په قانوني بازارونو کې د تریاکو نرخ ټیټ دی.

اما د افغانستان لپاره د کوکنارو د قانوني صنعت د رامنځته کولو پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ اقتصاد دی؛ ځکه دا هیواد په قانوني ډول د تریاکو د تولیدولو په برخه کې مقایسوي مزیت نلري. داسې یو شمیر هیوادونه شته چې د صادراتو لپاره په قانوني ډول تریاک تولیدوي، خو کوکنار د یوې تنظیموونکې ادارې تر څارنې لاندې کرل کیږي: چیرې چې بزګران په ټاکلي اندازه د کوکنارو د کرلو قانوني جواز لري؛ هلته کښت یوازې پر یو ځانګړې دولتي او یا شخصي شرکت باندې پلورل کیږي؛ او چیرې چې هر ډول سرغړونه د مجازاتو سبب کیږي چې پدې کې زندان هم شامل دی. پدې توګه، په زیاته پیمانه د کوکنارو قانوني کرکیله، د هند او ترکیې په استثناء کوم چې خوندي حیثیت لري، تر پرمختللي نړۍ محدوده ده.

په آسټرالیا کې کوکنار تر ډیره د تسمانیا په ټاپو (جزیره) کې کرل کیږي، خو په ۲۰۱۴م کال کې یې کرکیله د آسټرالیا جنوب[۳۹] ته او په ۲۰۱۷ م کال کې د نوی جنوبي ویلز ایالت ته وغځول شوه.[۴۰] په ۲۰۱۳ م کال کې بزګرانو په تسمانیا کې په منځنۍ توګه پر ۴۰ هکتاره ځمکې کوکنار وکرل، او تر ټولو ستره کرونده یې ۴۸۰ هکتاره وه.[۴۱] په درې واړو ایالتونو کې بزګران اصلاح شوي تخمونه او د لو کولو مختلط ماشین آلات کاروي، چې پدې توګه یې حاصلات زیات دي او د مورفین د هر واحد د لګښتونو معادل – د پایلي محصول د اندازې واحد – په نړۍ کې تر ټولو ټیټ دی.

له بلې خوا، په افغانستان کې کوکنار په کوچنیو کروندو کې کرل کیږي چې مساحت یې معمولاً تر یو هکتار لږ وي. د کوکنارو کرنه او لو په لاسي ډېر ترسره کیږي، چې پدې توګه پر هر هکتار ځمکې باندې د ۳۲۰ کسانو کار ته اړتیا شته، او د یو واحد لګښت یې د آسټرالیا په پرتله ۱۰ ځله زیات دی.[۴۲]

هغه نور هیوادونه چې پکې په قانوني ډېر کوکنار کرل کیږي، لکه اسپانیا، فرانسه او ترکیه، هم د افغانستان په نسبت باکفایته (کم لګښته) تولیدوونکي دي. حتی هندوستان چې یوازینی هیواد دی کوم چې د خامو کوکنارو لو ته دوام ورکوي او د دې پر ځای چې د کوکنارو د بوټي پورتنۍ ۱۰ سانتي متره برخه پرې او د کوکنارو د غوزې د شیرې (CPS) د ترلاسه کولو لپاره یې پروسس کړي، د مورفینو یو کیلوګرام تولیدوي چې بیه یې په افغانستان کې د بزګرانو پواسطه د تولید شوي مورفینو په پرتله ټیټه ده.[۴۳]

۳۹ مارګوټ کیلي او لوریسا سمیت، 'د تریاکو صنعت د تسمانیا د بزګرانو لپاره د سرخوږي سبب ګرځېدلی ځکه دا کښت نو ګټور نه ګڼل کیږي'، ABC Rural، ۲۳ جون ۲۰۱۸،
۹۸۸۱۰۸۴/pain-for-pharmaceutical-poppy-industry-in-tasmania/۲۴-۰۷-۲۰۱۸/https://www.abc.net.au/news/rural

۴۰ ماډلین کلارک، 'په ریوارینا کې د تریاکو د لومړي دولتي کښت لو جریان لري'، The Land، ۲ جنوري ۲۰۱۸،
/states-first-opium-poppy-crop-harvest-under-way-in-riverina/۵۱۴۲۳۹۱/https://www.theland.com.au/story

۴۱ د تسمانیا د ابتدایي صنایعو، پارکونو، اوبه او چاپیریال او همدارنګه د تریاکو د کرونکو اداره، 'هغه عوامل چې د کوکنارو د کرلو په برخه کې د بزګرانو پر پرېکړو اغیزې شیندي'، د ۲۰۱۳ جنوري، ۱۵ پاڼه pdf.۲۲۰۲۱۳-https://dpipwe.tas.gov.au/Documents/Poppy-Report

۴۲ ویلیام بایرډ او ډېویډ مانسفیلډ، د درملي کارونې لپاره د افغان تریاکو قانوني کول: ولې به دا کار موثر نه وي. د سولې لپاره د متحده ایالاتو انستیتیوت، د سولې د راپور لنډیز، د ۲۰۱۴ سپتامبر، ۳ پاڼه
۲۰Use.pdf٪۲۰Medicinal٪۲۰for٪۲۰Opium٪۲۰Afghan٪Licensing-https://www.usip.org/sites/default/files/PB۱۷۹

۴۳ ویلیام بایرډ او ډېویډ مانسفیلډ، د درملي کارونې لپاره د افغان تریاکو قانوني کول: ولې به دا کار موثر نه وي. د سولې لپاره د متحده ایالاتو انستیتیوت، د سولې د راپور لنډیز، د ۲۰۱۴ سپتامبر، ۳ پاڼه
۲۰Use.pdf٪۲۰Medicinal٪۲۰for٪۲۰Opium٪۲۰Afghan٪Licensing-https://www.usip.org/sites/default/files/PB۱۷۹

پر دې سربیره، د مخدره توکو په تنظیم شوی (رسمی) نړۍ کې د خامو کوکنارو لپاره لږ تقاضا شتون لري.[44] د درمل جوړولو ستر شرکتونه د کوکنار د غوزې شیرې (CPS) ته ترجیح ورکوي. د کوکنار د غوزې دغه شیره د نړۍ د مخدره موادو د عرضې عمده برخه جوړوي، یعنی د مورفین د بډاینې له پلوه د خامو مخدره موادو **۹۵** سلنه جوړوي.[45] د خامو کوکنارو په نسبت د کوکنار د غوزې د شیرې څخه د القلی موادو استخراج هم لږ پاتې شونې تولیدوی، او له همدې امله یې د پاتې شونو له منځه وړل کمې ننګوونکی (کم لګښت) او له چاپیریالی پلوه لږ زیانونه لري. همدارنګه د کوکنار د غوزې شیره د تولید تر ټولو غوره طریقه ده؛ یعنی د تریاکو د استخراج په نسبت د اندازه کولو غوره مقیاسونه وړاندی کوي؛ ناقانونه بازارونو ته یې د عرضه کولو فرصتونه لږ دي؛ او د وزن په تناسب یې پایلیز تولید زیات ارزښت لری او له همدې امله د لیږد رالیږ لګښت یې کم دی او ساتنه یې په آسانۍ سره ترسره کیدای شي.

په افغانستان کې د کوکنارو د غوزې د شیرې پر لور د تولید اړول به پر اقتصاد ژورې اغیزې ولری. په **۲۰۰۹** م کال کې په آسترالیا کې پر **۲۲,۳۲۳** هکتاره ځمکې کوکنار وکرل شول او د دې لپاره یوازې **۱,۰۰۰** تنه په کار ګمارل شوی وو. په **۲۰۱۸**م کال کې په افغانستان کې پر **۲۲۳,۰۰۰** هکتاره ځمکې کوکنار کرل شوی وو، او یکې **۴۲۰,۸۰۰** تنه د پوره وخت لپاره په کار ګمارل شوی وو(FTE). د کوکنار د غوزې د شیرې (CPS) پر لور اوښتل به د کرهنیزې تکنالوژۍ په برخه کې په زیاته پیمانه بدلون ته اړتیا ولری چې دا به آسانه کار نه وی او په ډراماتیکه توګه به د بیکارۍ سبب شی. همدارنګه دا به زیاتې سرمایې ته اړتیا ولری چې ګومان نه کیږی د افغانستان دوامداره بې ثباته حالت ته په کتو سره به د درمل جوړولو فابریکې پدې برخه کې پانګوالۍ ته زړه ښه کړی، او په داسې حال کې چې د امنو هیوادونو څخه د کوکنارو د غوزې د شیرې عرضه په نړیواله کچه د شته تقاضا څخه زیات دی.[46]

پر دې سربیره، په **۲۰۱۳** م کال کې د متحده ایالاتو د نسخې په قوانینو کې بدلونونو په نړیواله کچه د مخدره توکو لپاره پر تقاضا د پام وړ اغیزه وغورځوله. د آسترالیا بزګران پدې برخه کې د تقاضا او نرخونو ټیټوالی تجربه کړی، او د مخدره توکو قانونی صنعت نور هم رقابتی شوی دي.[47] حتی که نرخونه او تقاضا ثبات هم درلودلای، دا به د افغانستان لپاره ګران وای چې په نړیواله کچه د آسترالیا، فرانسې، یا اسپانیا په څیر هیوادونو سره چې د سوداګری، بنسټونو او زیربناوو له پلوه په مزیت کی قرار لری، سیالي کړی وای.

۴۴ دیویا راج ګوپال، 'د تریاکو ټکنی تجارت او د قواعدو او زیربناوو د بهتره کولو غوښتنه'، The Economic Times، ۱۸ می ۲۰۱۹،
https://economictimes.indiatimes.com/news/economy/foreign-trade/opium-trade-sluggish-as-norms-infra-beg-for-
cms.۶۹۳۸۲۴۰۰/upgrade/articleshow

۴۵ د مخدره توکو د کنترول نړیوال بورډ، 'د مخدره توکو د خامو موادو عرضه او د طبی او ساینسی مقاصدو پخاطر د مخدراتو لپاره تقاضا'، **۲۰۱۳**، **۹۳-۱۰۰** پاڼې،
supply_E.pdf_۳_Part/۲۰۱۳/http://www.incb.org/documents/Narcotic-Drugs/Technical-Publications

۴۶ مارګوټ کیلی او لوریسا سمیت، 'د تریاکو صنعت د تسمانیا د بزګرانو لپاره د سرخوږی سبب ګرځېدلی ځکه دا کښت نو ګټور نه ګڼل کیږی'، ABC Rural، ۲۳ جون ۲۰۱۸،
۹۸۸۱۰۸۴/pain-for-pharmaceutical-poppy-industry-in-tasmania/۲۴-۰۶-۲۰۱۸/https://www.abc.net.au/news/rural

۴۷ جیمی سمت 'د متحده ایالاتو د مخدره توکو بحران د تسمانیا د تریاکو بزګرانو ته زیانونه اړولی' Financial Times ، ۲۲ مارچ ۲۰۱۸
b۲۷e-cc۲۲a۳۹d۵۷a۰-۱۱e۸-۲۵bc-۷۶e۹d۴۸۶/https://www.ft.com/content؛ مارګوټ کیلی او لوریسا سمیت، 'د تریاکو صنعت د تسمانیا د بزګرانو لپاره د سرخوږی سبب ګرځېدلی ځکه دا کښت نو ګټور نه ګڼل کیږی'، ABC Rural، ۲۳ جون ۲۰۱۸،
۹۸۸۱۰۸۴/pain-for-pharmaceutical-poppy-industry-in-tasmania/۲۴-۰۶-۲۰۱۸/https://www.abc.net.au/news/rural

## ۳. د ډېرو ورته اقداماتو په مرسته د ستونزې حل کول

داسې ګوانښ شته چې په راتلونکې کې د هر ډول سياسي جوړ جاړي په چوکاټ کې د کوکنارو د قانوني کولو او ورباندې د بنديز لګولو په تړاو بدیلونه به د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لږ او زيات ورته پايلې ولري: په هغه صورت کې چې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه محدوده او ويشلې وي او د ناقانونه مخدره توکو سره د تړلو ستونزو د حلولو مسووليت د مخدره توکو پر ضد فعاليت کوونکو نړيوالو او کورنيو سازمانونو ته ورکړل شي چې د فشار لږ هرمونه او محدوده وړتيا ولري.

سره لدې، مونږ ليدلي چې دا څرنګه کار کوي. د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش(SIGAR) د زده کړل شوو سبقونو تر عنوان لاندې د مخدره توکو[48] پر وړاندې د مبارزې په تړاو راپور په وړ ډول پخوانۍ هڅې مستندوي. دا راپور په افغانستان کې د کوکنارو د سوداګرۍ د له منځه وړلو په برخه کې د ناهمغږو او نامنسجمو هڅو انځور وړاندې کوي: يعنې د رقيبو فلسفو، تګلارو، بنسټيزو ګټو او وجايبو ترمنځ جګړه او د هغه د ترسره کېدو څرنګوالي بيانوي. په داسې حال کې چې د کلني موخو لکه د کوکنارو د کرکيلې د کچې کموالي او د ځانګړي مقدار کوکنارو د له منځه وړلو د حصول لپاره ځينې فرمانونه صادر او پيسې لګول شوې، خو داسې هڅو په لويه کې د ثبات او امنيت راوستلو هڅې کمزورې کړلې، چې دا بيا پخپل وار سره د کوکنارو د توليد په کچه کې د زياتوالي سبب وګرځېد.

پداسې حال کې چې مرستندويه هيوادونو او په افغان حکومت کې دننه سازمانونو د متناقضو موخو د ترلاسه کولو لپاره فعاليتونه کول: يوې اداري يا پروژې به هڅه کوله ترڅو بزګران د کوکنارو د کرکيلې څخه منصرف کړي، پداسې حال کې چې بلې به د اوبو لګولو په غوره کولو باندې کار کاوه، او داسې احتياطي پلان يې نه درلود چې پر اساس يې په راتلونکو کلونو کې پر زياتې ځمکې د ښه حاصل لرونکو کوکنارو د کرلو د ګوانښ مخه ډب کړي. او همدارنګه بل سازمان به پر دې پلان کار کاوه چې يو داسې سيمه ايز ځواکمن کس په نښه کړي کوم چې د مخدره توکو په سوداګرۍ کې لاس لري، او په عين حال کې بل سازمان به داسې کسان لدې امله د زيانمن کېدو څخه ژغورل چې دوی د تندلارو په اړه معلومات وړاندې کول او د داسې سازمانونو په نظر دوی د ځايي ثبات لپاره کليدي اهميت درلود.

په تيرو ۱۸ کلونو کې مونږ دا هم وليدل چې څرنګه د دولت ډيرې ادارې ليواله نه وي چې ترڅو په يوه تر ټولو کړکيچنه ستونزه کې ښکېل شي. پراختيايي ادارو او سازمانونو ډير ځله يواځې هغه مهال د ښکېلېدلو ليوالتيا څرګندوله چې کله به د کوکنارو د کرکيلې کچه زياته شوه او په کابل او نورو غربي پلازمېنو کې چارواکو به وپتيله چې له سياسي پلوه د اړينو اقداماتو وخت رسېدلی دی. په هر صورت، پراختيايي اقدامات به ډير ځله پيکه او نيمګړي وو؛ او په اغيزمنه توګه د کرکيلې لاملونو ته د رسېدنې په نسبت تر ډيره د فعاليت کولو د ښودلو بڼه درلوده. په ډيرو مواردو کې دولتي ادارو په عادي توګه خپل کارونه پرمخ بيول، يعنې شته لګښتونه او اقدامات به يې د مخدره توکو سره د مبارزې تر عنوان لاندې وړاندې کول، که څه هم ممکن د دوی له ډلې ځينو يې د توليد د زياتوالي سره مرسته کړې وي.

تر ټولو اساسي پراختيايي اقدام - لکه څرنګه چې په **۲۰۰۵** م کال کې د افغان چارواکو لخوا په ننګرهار او د ختيځو سيمو په نورو برخو کې د کوکنارو پر توليد د بنديز لګولو وروسته وليدل شو – د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداري (USAID) او د برتانيې د نړيوال پراختيا اداري (DFID) لخوا د غنمو د تخمونو او کيمياوي سرې د ويشلو تمويل وو ترڅو بزګران دې ته وهڅول شي چې د کوکنارو پر ځای د غنمو کرکيلې ته مخه کړي. دا کار د داسې يو نوښت د نيمګړتيا په اړه د پوهاوي سره سره ترسره شو چې کوکنار په معيشت کې څو اړخيزه ونډه لوبوي، او دی ګوانښ شتون درلود چې ممکن کيمياوي سره د کوکنارو د کرکيلې لپاره وکارول شي. د دغو ملاحظاتو سره سره، د غنمو د تخمونو او کيمياوي سرې چمتو کول د هلمند د خوړو زون پروګرام اصلي برخه جوړوله، چې دا د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې يو داسې نوښت وو چې په پايله کې يې د لازياتو کوکنارو د کرلو په برخه کې تر هر بل وخت د دې ولايت وړتيا زياته کړه او د کوکنارو کرکيله يې د پخواني دښتې سيمو ته چې د دولت له واکمنۍ بهر دي، وغځوله.[49]

48 د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د متحده ايالاتو د تجربې څخه سبقونه، د ۲۰۱۸ جون، https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-۱۸-۵۲-LL.pdf

49 ډيويډ مانسفيلډ ‹په رښتيني توګه بې سارې: څرنګه د هلمند د خوړو زون دترياکو د توليد په برخه کې د دې ولايت د ظرفيت د زياتوالي سره مرسته وکړه› د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، د ۲۰۱۷ اکتوبر https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۷/۱۰/-How-the-TRULY-UNPRECEDENTED-۱۷۲۸E%E۲%۸۰%۹۹Helmand-Food-Zone-supported-an-increase-in-the-provinces-capacity-to-produce-opium.pdf

د نورو اقداماتو په اړه هم لږ فکر شوی وو، او د کوکنارو د اقتصاد په اړه پوهاوی او د کلیوالی اقتصاد او همدارنګه د تندلارۍ او په لویه کې د بیارغونې د هڅو سره د هغې اړیکې د نیمګړو معلوماتو پر بنسټ وې. د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۷م کال کې د مخدره توکو د لابراتوارونو پر ضد هوایی بریدونه پدې موخه ترسره کیدل ترڅو د طالبانو د عاید مخه ونیول شی، او د دې ادعا بنسټ دا وو چی د تندلارو ډلو ۲۰ سلنه عواید د مخدره توکو د سوداګرۍ څخه ترلاسه کیږی او د تولیزې سوداګرې د ارزښت ۲۰ سلنه د مالیاتو په بڼه د طالبانو جیبونو ته ځي.[۵۰] حتی که دغه مفروضې سمې هم وای – چی ډیری شواهد ښیی داسې نده[۵۱] – د دغو کمپاینونو په ترڅ کې تر ډیره د غیر فعالو لابراتوارونو د له منځه وړلو پخاطر، چی کیدای شی نهایی ارزښت یی تر ۱۷۰۰۰ ډالرو رسیده او کوم چی په آسانۍ سره بیرته ورغول شول، ملیونونه ډالر ولګول شول، او پدې توګه یی د مخدره توکو د قاچاق پر سازمانونو او د طالبانو د مالی تمویل پر سرچینو یی ډیر لږه او ناڅیزه اغیزه وشیندله.[۵۲] هوایی بریدونو پخپله د کلیوالو وګړو ترمنځ د پام وړ ناآرامۍ سبب وګرځیده او د متحده ایالاتو د سرتېرو او افغان حکومت پر وړاندی د کرکې د زیاتیدو لامل شو.[۵۳]

شواهد څرګندوی چی تر دې دمه په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په تړاو تر ټولو ستره ستونزه د دې معضلې د ماهیت پیژندنه او د هغې د ښه مدیریت د بڼې د څرنګوالی پر سر هوکړه ده. نهایتاً، ابتدایی ستونزه د کوکنارو او تریاکو کرکیله نده، بلکه لدې لارې د ناقانونه عوایدو (پیسو) ترلاسه کېدل او دا چی دغه پیسې څوک لاسته راوړی او د کومو موخو لپاره مصرفیږی، ده. اساسی ستونزه د مخدره توکو کاروَنه او د افغانی ټولنې لپاره د هغې پایلې او همدارنګه نور ورته موارد دي چی اندېښنې را پاروی، نه دا چی آیا د کرکیلې کچه کمه شوې یا مخ پر زیاتېدو ده. په همدې توګه یوه زیانمنتیا چی بزګران ورسره مخامخ دی دا هم ده چی دوی د ۸۰ سلنه نغدی عاید د لاسته راوړلو پخاطر یواځی پر یو کښت باندی متکي دي؛ چی ممکن دغه کښت د آفت او وچکالۍ له امله ښه حاصل ونکړی او یا هم د زیات تولید او د مستهلکینو په ترجیحاتو کې د بدلون له امله یی نرخ راټیټ شی. خو هر څل ابتدایی تګلاره په مستقیمه توګه د مخدره توکو د تولید په ښنه کول وی – یعنی د کوکنارو په نه کرلو د بزګران ګواښل، بمباری، د کښتونو اړول او د کښت بدیل – ګویا د کښت له منځه وړل ساده، عملی، او د دې کار د ګټو تله د عواقبو په نسبت همیشه درووند دی.

۵۰ د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د جنرال نیکلسن پواسطه د کابل، افغانستان څخه د ویدیو کنفرانس له لارې د دفاع وزارت مطبوعاتی اعلامیه: جنرال جان و. نیکلسن، قوماندان، قاطع ملاتړ او په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه، ۲۰ نوامبر ۲۰۱۷،

department-of-defense-press-briefing-by-/۱۳۷۷۷۵۳/https://dod.defense.gov/News/Transcripts/Transcript-View/Article /general-nicholson-via-teleconference-fr

۵۱ ډیویډ منسفیلد، "د عاید مخینوی یا د پیسو ضایع کول: په افغانستان کې 'د مخدره توکو پر لابراتوارونو' د هوایی بریدونو د اغېزو ارزونه" IDPU، LSE، د ۲۰۱۹ اپریل.

۵۲ ډیویډ منسفیلد، "د عاید مخینوی یا د پیسو ضایع کول: په افغانستان کې 'د مخدره توکو پر لابراتوارونو' د هوایی بریدونو د اغېزو ارزونه" IDPU، LSE، د ۲۰۱۹ اپریل.

۵۳ ډیویډ منسفیلد، 'د غومبسو په ځاله کې لاس وهل: د هلمند د مرکزی سیمو وګړي د بغاوت پر ضد روانو پوځی عملیاتو ته په کومه سترګه ګوري' د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، د ۲۰۱۸ کال اکتوبر https://areu.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۸/۱۱/E۲%-STIRRING-UP-THE-HORNET%E۲%۸۰%۱۸۱۴-۹۹S-NEST.pdf

## ۴.    مخ پر وړاندې لاره

د اجباری خوشبینۍ سره سره داسې ښکاری چې مونږ په افغانسان کې د یو هر اړخیز سیاسی جوړجاړی څخه یو څه واټن لرو: او اوس هم داسې ډیرې ستونزې شته چې باید حل شي. یو له هغو موضوعاتو څخه چې ممکن د یو جوړجاړی په لار کې خنډ واقع نشی، خو د یوې تلپاتې سولې مانع وګرځی هغه د ناقانونه مخدره توکو تولید او لدې لارې ترلاسه کیدونکی پیسې دي.

اوسمهال داسې څرګندونې (اشارې) کیږی چې په راتلونکی کې یو سیاسی جوړجاړی ته تر رسېدو وروسته باید د کوکنارو پر کرکیلې ټولیز بندیز ولګول شی. خو تیرې تجربې ښیی چې داسی یوی موخې ته رسېدل به ستونزمن وی او ممکن له مخکې نه نازک او ماتېدونکی حالت به نور هم بې ثباته کړی. د عملی بدیلونو په نشتون کې – چې داسې یو نشتون د افغانستان په ډیرو سیمو کی لیدل کیږی – پر کوکنارو د بندیز لګول به د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د یو راتلونکې حکومت لپاره ملاتړ کمزوری کړی او د ناراضۍ او تاوتریخوالی نه ډک مقاومت سبب وګرځی. حتی که داسی څه په سمدستی توګه واقع نشی، شواهد ښیی چې په هغو سیمو کې د کلیوالی مقاومت قوی احتمال شته چیری چې بزګران د کوکنارو د کښت عملی بدیل نلری، چې د بندیز د عملی کېدو په دوو کلونو کې دننه په داسې مقاومت کې د وسلوالو ډلو د ښکېلتیا احتمال هم شته.

د کوکنارو د کښت قانونی کول هم د ستونزې حل ندی. په اغیزمنه توګه د قانونی کولو لپاره اړینه ده چې د افغانستان په کلیوالی سیمو کې حالات په اساسی توګه بدلون ومومی ترڅو د دې کار د عملی کېدو پخاطر بنسټیزه وړتیا او اړین امنیت رامنځته شی. پر دې سربیره، افغانستان نشی کولای په نړیواله کچه په سیالیزه بیه قانونی مخدره توکې تولید کړی. د پراخو کروندو، عصری ماشین آلاتو او زیات پرمختللی زیربنایی او لوجستیکی آسانتیاوو په درلودلو سره آسترالیا، اسپانیا، او فرانسه کولای شی قانونی مخدره توکې د افغانستان په پرتله په ناڅیزه بیه تولید کړی.

سره لدې، د ناقانونه مخدره توکو د ستونزې له پامه غورځول هم یوه عملی تګلاره نده. د ناقانونه مخدره توکو څخه په افغانستان او سیمه کې زیات عاید ترلاسه کیږی، چې د دې پیسو زیاته برخه د تندلارو ډلو لاسونو ته ورځي. پدې توګه، ناقانونه مخدره توکې او نامشروع پیسې، لکه معادن، تیل، او د ترانزیت سوداګری د پولو هاخوا منظمو جرمې ډلو او بیلابیلو ښکېلو خواوو لپاره د پیسو یوه داسې سرچینه برابروی کوم چې په راتلونکی کې پر خپل قلمرو د یو اغیزمن واکمن افغان حکومت په رامنځته کېدو کې هیڅ لیوالتیا نلری. په داسې یو وضعیت کې، د ګډوډۍ او بې ثباتۍ شتون تر یوې اندازې د سوداګرۍ لپاره ګټور دي او څرګنده ده چې د افغانستان هغه ولایتونو چیری چې مخدره توکی تولید، انتقال او قاچاق کیږی هلته به د سیاسی جوړجاړی پر مهال ژور اختلاف زیات څرګند شی او ممکن شخړې ونښلی.

د ناقانونه مخدره توکو تولید، سوداګری او استعمال به په افغانستان کې له منځه ولاړ نشی، خو ستونزه دا ده چې څرنګه د هغې تر ټولو زیان رسوونکې اغیزې مدیریت شی. هر کله چې یو سیاسی جوړجاړی رامنځته شی، پدې اړه باید لومړیتوب دا وي چې په راتلونکې کې یو افغان حکومت د دې ستونزې د حل مسؤولیت په غاړه واخلی:

- باید حکومت د ناقانونه مخدره توکو له امله رامنځته شوی زیانونه د یو پراختیایی لومړیتوب په توګه ځانګړي کړی او نړیوال، دوه اړخیز او ملی پراختیایی سازمانونه دې ته اړ کړی چې ورته اقدام ترسره کړي.
- باید حکومت د مخدره توکو سره تړلي دغه زیانونه د ټولو دولتی ادارو لپاره یوه ګډه ستونزه وګرځوی ترڅو په واضح توګه هغه ته په خپلو تګلارو او اقداماتو کې ځای ورکړی.
- باید یوه اساسی کاری ساحه (ډله) له مالی پلوه پر رامنځته کیدو او پر ګواښونو تمرکز وکړی او د ناقانونو وسلوالو ډلو لاسونو ته د پیسو د رسیدو مخه ونیسی.
- باید په یوه راتلونکی روغتیایی تګلاره کې د مخدره توکو د استعمال د ستونزې اغیزې مدغم شی.
- باید هغه سازمانونه کوم چې د کلیوالی پراختیایې په برخه کې کار کوي په واضح توګه د کوکنارو د کرکیلې لاملونه په نښه کړي – او دا په ډاګه کړی چې څرنګه دغه لاملونه د ټولنیز-اقتصادی ډلو ترمنځ توپیر لری - او داسی پروګرامونه چمتو کړی چې د بزګرانو سره د دوی د ژوندانه په پیاوړی کولو او تنوع په برخه کې مرسته وکړی، او په عین حال کې د کوکنارو د کرکیلې د سطحو د زیاتېدو سره مرسته ونکړي.

## د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپې(چاپی بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی (مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه آدارې سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه آدارې سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او دسیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه :په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزي بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتوکوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعي توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون ځنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | ډوېډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایي بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا ګانیش | | | جنسیت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولۍ | دیتلیف کمیر | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بیا کتنه | اکسل کویتز | | | حکومتولی | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچیانو – بزګرانو شخړې | انتونیو جیو ستوزي | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ریپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ کرښې: د هرات له درې کلیو څخه بیلګې | دانیل هت، ادم پین او احسان الله غفوري | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معیشت تګ کرښې: د «وروسته پرمختیا» په وخت کې ژوند | جیولیا مینویا او ادم پین | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ ګرښې: د کندهار په ولایت کې چوپ تاوتریخوالی | دانیل هوټ، ادم پین او احسان الله غفوری | | | ټولینزه ساتنه | کاری لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د تولید ټولینزې اړیکې | جیولیا مینویا او ادم پین | | | د طبیعی سرچینو مدیریت | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو، کښت ته د پرمختیائې غبرګون را مینځ ته کول | دیوید منسفیلد، پاول فیشستین او OSDR | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کلیو د شرایطو دشننې کارول: میتوودونه او پراخ دلیلونه | ادم پین | | | پایښت لرونکې معیشیت | کاری لیکنه |



د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی ( www.areu.org.af ) څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

برېښنالیک: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-33-4